
# ننګونکي پوښتنې او ځوابونه

## طبي ، ساينسي ، جغرافيايي ، ټولنيز او ذهني



Ketabton.com

ژباړه او راټولونه: محمود حميدزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پېژندپانه

**نوم:ننګوونکي پوښتنې او ځوابونه**

**ژباړه او راټولونه:محمود حمیدزی**

**ټایپ او دپاڼوډېزاین: محمود حمیدزی**

**دپوښتنې ډېزیزاین: مسلم اڅکزی**

**دخپرېدونیټه:۱۴۰۳ه ش**

**یادونه:ددې کتاب دچاب حقوق دژباړن سره خوندي دي،دکتاب همدا پي ډي ايف بڼه بيله بدلونه هرڅوک خپرولی سي دچاپ اوبدلون حق يې څوک نه لري!**

**دژباړن خپاره سوي اثار،کتابونه**

## دژباړن خپاره سوي اثار

### دژباړن خپاره سوي اثار

**۱{په سمندر کی دملغلرو لټون}**

**ټولنیزې ستونزې او دحل لارې يې**

**دفکرونوجوړښت اوهغوئ ته وده ورکول**

**۲{رونې سیند}**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍشعرۍ ټولګه

۳په کايناتو کې دقرآنکريم علمي معجزې3

د ذرو څخه درکهکشانونو د اللهﷻ مخلوقات

۴ دانسان په بدن کې دقرآن کريم علمي معجزې4

دانسان دبن دحجرو څخه درنسجونو دنسجونو څخه درغړو دغړو څخه )

(دربدن پورې: هراړخيزطبي مالومات او دعقدې دلا کروړ کولو درسونه

۵{دالماسو پنډ}

دېښتومتلونو د ويلوځايونه اوعلتونه

۶{ژور اندونه}

دويمه شعرې ټولګه

۷ {په ژوند کې دبرياليتوب 50رازونه }

۸{څنګه ژوند وکړو }

دنړۍ ديوهانو او برياليو وګړو دسلګونووېناوو ژباړه

۹{خوږې خبرې }

لنډکې شعرونه او ادبي ټوټې

۱۰{زنګوونکې پوښتنې اوځوابونه }

سلګونه طبي،ساينسي،جغرفيوي، بيولوژيکي،ذهني او ټولنيزې پوښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دژباړنه خبرئ

زموږ ژوند کي بیلابیلي پوښتني زموږ مخته راځي، کله زموږ دهغوئ ځوابونه زده وي اوکله نه خو :پوښتني ځکه اړیني دي چي موږ دې ته هڅوي چي کتابونه ولوَلو او زموږ سره سته پوښتونو ته ځوابونه ومومندو!

زموږ، زموږ دمسلک اړوند ډیر څه زده وي او دهغوئ په اړه مالومات لرو، مګر که موږ په هر برخه کي مالومات نه وي لوستلي،

موږ به ونه سو کولی په هر برخه کي مالومات ولرو،

ښه نو ما هم دا ښه وګڼل چي د اړینو علومو ځیني پوښتني راغونډې او ستاسو درنو لوستونکو سره یې دیؤې ټولګې په ښه شریکې کړم، ترڅو زموږ اوستاسوپه سته مالوماتوکي لانور مالومات ډیرسي!

ستاسوڅخه هیله کوم چي په یادوپوښتونو اوځوبونو بسنه مه کوئ بلکې: دیادو پوښتونو اړوند لاډیرمالومات لاسته راوړئ اولا ډیرکتابونه ولولئ:ترڅو دعلم پوهې سمندرکي مو لانورې ځلانده او بریښندوکي ملغلرې موندلې وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

۱پوښتنه: دلمر دسطحې، مخ دتودوخې درجه څومره ده؟

۲ځواب: تخمین ۶میلیون سانتي ګریډ درجې ده .

۳پوښتنه: دلمر دمرکز دتودوخې درجه څومره ده؟

ځواب: تخمین ۲۰میلیونه سانتي ګریډ درجې ده.

پوښتنه: آیا په فضأ کي داسي ستوري سته چي رڼا او تودخه یې دلمر څخه ډېره وي؟

ځواب: هو داسي ستوري سته چي رڼا او تودوخه یې دلمر څخه ۵۰۰زره برابره ډېره ده.

٤پوښتنه: دعین القط ستوري چاودنه په کوم کال رامنځته سول؟

ځواب: دا یو ستوری دئ چي چاودنې یې ګلاب ته ورته شکل غوره کړ او شاوخوا یې د پاڼو په شان زرغونې وړانګې خپرې کړي؛ دچاودنې انځور یې ساینس پوهانو په ۱۹۹۰میلادي کال کي وا خیستئ.

۵ پوښتنه: که دهوا فشار لمنځه ولاړسي څه به راپیښ سي؟

ځواب: سخت دکلمو دردونه دتنفسي لارو دردونه دغوږونو او بندونو دردونه به راته پیښ سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
| --- | --- |

۶پوښتنه: هغه فشار چې دمځکې په تل کې شتون لري څومره دئ؟

ځواب: دمځکې دتل فشار دمځکې دمخ دهوا،اتموسفیر دفشار څخه دري لکه او شپږسوه میلیونه ځلي ډېردئ.

۷پوښتنه:دهغه نیټروني ستوري فشار چې مخکي لکه لمر دومره وو او ورسته یې قطر دډېرفشار له عمله یؤاز۱۴ کیلومترو ته راټیټ سوی فشار یې څومره دئ؟

ځواب: دهغه فشار داتموسفیردفشار یؤمیلیون،میلیون،بیلیون برابره دئ.

۸پوښتنه الماس دڅومره فشار لاندي جوړیږي؟

ځواب: الماس دڅلور میلیونه پاسکاله فشار دپیاوړتیا هومره فشار باندي سره تخته سوي یا درهغه لاندي جوړ سوی دي.

۹پوښتنه: صنعتي الماس څنګه جوړیږي؟

ځواب: عادي سکرو ته۲۰۰ درجې حرارت او داتموسفیر دپنځه زره بربرفشار هومره ترکم ورکړي ترڅو یؤه ماده چې په صنعتي الماسو مشهوره ده تري لاسته راسي.

۱۰پوښتنه:دمځکې څخه در واسه دټولو لیري کشف سوی کهکشان څه نومیږي؟

ځواب:MACS-0647JD.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**۱۱پوښتنه: دمځکې په هسته کي څشي شتون لري؟**

**ځواب: مايع يابهيدونکي لاوا،اتش فشاني مواد.**

**۱۲پوښتنه: که حيوان يا انسان اکسيجن تنفس کړی په څشي بدليږي؟**

**ځواب: په کاربن ډای اکسايډ.**

**۱۳پوښتنه: که نباتات اکسيجن تنفس کړي په څه شي بدليږي؟**

**ځواب: بيرته په طبيعت کي په اکسيجن بدليږي.**

**۱۴پوښتنه: دلمريز او سپوږميز کال ترمنځ توپير څو ورځې دئ؟**

**ځواب: دلمريز او سپوږميزکال ترمنځ توپير۱۰،۸۷۵۱۳۷ ورځې دئ.**

**دغه لس عشاريه څو ورځې سپوږميز کال دلمريز کال څخه کم دئ.**

**۱۵پوښتنه :۳۰۰ لمريز کلونه څو سپوږميز کلونه کيږي؟**

**ځواب: ۳۰۹کاله کيږي.**

**۱۶پوښتنه :دانسان دبدن ځيني دفاعي پوځيان په کوم حربي پوهنتون کي روزل کيږي دپوهنتون اوپوځيانو نوم واخلئ؟**

**ځواب :دپوهنتون نوم يې تايموس غده ده او زدکړيالان پوځيان يې تي سيل،لمفوسايټونه دسپينو کروياتو برخه ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

۱۷پوښتنه: او که ته سیل،لمفوسایټونه دتایموس دپوهنتون په ازموینه کي ناکمه سي،سزا يې څه شي ده؟

ځواب :مرګ.

۱۸پوښتنه: دشیدو لارې آسمان ټولګه کي څو ستوري شتون لري؟

ځواب: تخمینً د۳۰ میلیارده څخه در۲۰۰ میلیارده ستوروپوري.

۱۹پوښتنه: دمځکې حجم څومره دئ؟

ځواب: ۱میلیون کیلومتره مکعبه.

۲۰پوښتنه: لمر نسبت مځکې ته څومره لوی دئ؟

ځواب: ۱۳۰۰۰۰۰دیرلس لکه واري.

۲۱پوښتنه: لمر دمځکې څخه څو کیلومتره لیري دئ ؟

ځواب: ۱۵۰۰۰۰۰۰۰یؤسلوپنځوس میلیونه کیلومتره لیري دئ.

۲۲پوښتنه: منکب الجوزا ستوری دلمر څخه څومره غټ دئ؟

ځواب: تقریبً لس میلیونه واري.

۲۳پوښتنه: په یؤ کال کي رڼا څومره فاصله وهي؟

ځواب: ۱۰ازره میلیارده کیلومتره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |

24پوښتنه :سپوږمۍ دمځکې څخه څومره ليري ده؟

ځواب: يؤه نوري دقيقه.

۲۵پوښتنه: زموږ دلمريز نظام قطر څومره دئ؟ ځواب: تقريباً ۱۳نوري ساعته

۲۶پوښتنه: ترټولو نژدي ستورى زموږ څخه څومره ليري دئ؟

ځواب :۴نوري کاله.

۲۷پوښتنه: که موږ يادسوي ستوري ته دمځکې په يؤه وسيله کي سفرپيل کړو څوکاله وخت به ونيسي؟

ځواب : ۵۰ميليونه کاله.

۲۸پوښتنه: څوکاله مخکي دمځکې ټولې لويي وچي سره مښتي وي؟

.ځواب :شل ۲۰ميليونه کاله مخکي.

۲۹پوښتنه: کله چي دمځکې لويي وچي ديؤبل سره مښتي وي هغوئ ته يې څه ويل؟

ځواب: پنګيا.

۳۰پوښتنه:مځکه پوهانو دمځکې طبقه بندي څنګه کړي ده؟

ځواب:لومړى دلوبو کلکه برخه۲ کلکه برخه ياوچه۳پوګه برخه۴پورتنى پوښ۵کورنى پوښ۶باندنى پوښ،هسته۷کورنى پوښ ياهسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتني | او ځوابونه |
|---|---|

**۳۱پوښتنه: مځکه څوبرخي، پړونه لري؟**

**ځواب: دوه، لومړی دمځکي قشردويم دمځکي هسته.**

**۳۲پوښتنه: دمځکي قشر پر څو طبقو ويشل سوی دئ؟**

**ځواب:پر درو طبقو، لومړی رسوبي طبقه ،دويم ګرانيتي طبقه،دريم بزالتي طبقه.**

**۳۳پوښتنه: دمځکي رسوبي طبقه دکوم ځايه پيليږي؟**

**ځواب:دڅو سانتي متر څخه پيل اودر۱۵ کيلومترو پوري دوام لري.**

**۳۴پوښتنه: ګرانيتي طبقه دڅو کيلومتر څخه پيليږي؟**

**ځواب: د۱۰يا ۱۵کيلومترو څخه پيل در۴۰ کيلومترو پوري.**

**۳۵پوښتنه دګرانيتي طبقي داخري پولې تودوخه څومره ده؟**

**ځواب: د۱۰۰۰سانتي ګريډ درجو څخه لوړه ده .**

**۳۶پوښتنه بزالتي طبقه دڅوکيلومتر څخه پيل ده؟**

**ځواب:تقريبً د۸يا۴۰ کيلومتروڅخه پيل او در۷۰کيلومترو پوري رسيږي.**

**۳۷پوښتنه: دمځکي دهستي پوښ څه نوميږي؟**

**ځواب: مانتل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**۳۸پوښتنه: دمځکې دهستې پوښ څوکیلومتره ژوردئ؟**

**ځواب: مانتل د۸څخه در۸۰ او حتا در۲۹۰۰کیلومترو پوري ژوروالی لري.**

**۳۹پوښتنه: په مانتل کي ماده کوم حالت لري؟**

**ځواب: په غالب ګمان جامد حالت لري.**

**40پوښتنه: دمانتل په سل کیلومتر ژوروالي کي تودوخه څو درجې وي؟**

**ځواب: د1400څخه در1500سانتي ګريډ درجې وي چي په ډېر ژوروالي کي ډېريږي.**

**41پوښتنه :دمځکې په هسته داتومسفیر فشار څومره وي؟**

**ځواب: میلیونونه پاسکاله.**

**42پوښتنه: دمځکې دهستې دتودوخې درجه څومره وي؟**

**ځواب: تخمیناً د2000سانتي ګريډ درجوڅخه زیاته وي.**

**43پوښتنه: دمځکې هسته څوکیلومتره لاندې ده؟**

**ځواب: تخمیناً 6370کیلومتره لاندي.**

**44پوښتنه:ایم33نبیوله، آسماني وريځي زموږ،څخه څومره لیري دي؟**

**ځواب:2.7میلیونه نوري کاله .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**45پوښتنه: موږ دلمر څخه څومره ليري يو؟**

**ځواب: اته دقيقې او17 ثانيې.**

**46پوښتنه: زموږ دلمريز نظام اوږدوالى څومره دئ؟**

**ځواب: تخمين 13نوري ساعته.**

**47پوښتنه: زموږ لمريز نظام دخپل كهكشان دمركز څخه په څومره وخت كي راګرځي؟**

**ځواب: په 250ميليونه كاله كي يؤازي يوځل.**

**48پوښتنه: او د يادو راګرځيدو تيزوالى څومره دئ؟**

**ځواب:په يوه ثانيه كي د220كيلومترو په سرعت سره.**

**49پوښتنه مځكه په څو سرعت سره، سره څرخي البته دخپل ځان څخه؟**

**.ځواب: په ساعت كي د1600كيلومترو په سرعت سره.**

**50پوښتنه: مځكه دلمر څخه په څو سرعت سره راګرځي يانې د انتقالي حركت تيزوالى يې څومره دئ؟**

**ځواب: په ثانيه كي 3كيلومتره.**

**51پوښتنه: لمر دخپل كهكشان دمركز څخه په څومره سرعت سره راګرځي؟**

**ځواب په ثانيه كي د200كيلومترو په سرعت سره.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**52پوښتنه: دشيدو لارې دکهکشان تېزوالی څومره دئ؟**

**ځواب: په ثانيه 240زر کيلومتره په سرعت سره دحرکت په حال کي دئ.**

**53پوښتنه:ځيني آسماني ستوري دمځکې څخه څومره ليري دي؟**

**ځواب: ځيني داسي ستوري شتون لري چي دمځکې څخه اتلس18ميليونه نوري کاله ليري دي.**

**54پوښتنه: موږ چي کله لمر ته ګورو آيا هغه انځور يې اوسنی دئ؟**

**ځواب: يا هغه دلمر د8دقيقو او ثانيو17 مخکنی انځور دئ.**

**55پوښتنه: آيا ګازونه داتموسفير څخه تښتيدلی سي؟**

**ځواب: يانه نه سي تري وتلی.**

**56پوښتنه: کايناتو کي کوم قانون حاکيم دئ ترڅو ديؤبل څخه بيل نه سي؟**

**ځواب:دجاذبې،يؤبل ځانته راکښلو،کشولو قانون.**

**57پوښتنه: څشی آسماني جسمونه ديؤبل سره دټکريد څخه ساتي،يانې هلته خو حاذبه ده ولې ديؤبل سره نه ټکر کيږي؟**

**ځواب: دهغوی حرکت دجاذبي قوي پرورېاندي ديؤې قوي د راپارونې سبب سوی دئ يؤه قوه يا ځواک دجاذبې قوي په مقابل کي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |

**57پوښتنه: موږ بیله تلسکوپه څو کهکشانونه په پاکو او تاریکو شپو کي لیدلی سو؟**

**ځواب:شپږ لومړی دشیدو لاري کهکشان،**

**دویم آیس ایم آیس دماژالاني کوچنی وریځي کهکشان چي زموږ څخه200 زره نوري کاله لیري دئ**

**دریم: آل ایم سي ماژالاني لویه وریځ چي.**

**زموږڅخه 160زره نوري کاله لیردي،**

**څلورم اندرومډا یا ایم31چي زموږ څخه 2.8میلیونه کاله لیري دئ،**

**پنځم: ځینو تېز نظرو کسان دایم33کهکشان چي زموږ څخه2.7 میلیونه نوري کاله لیري دئ دلیدو ادعا کړي ده**

**شپږم: ایم81کهکشان چي زموږ څخه 11میلیونه نوري کاله لیردئ، ځینو یې بیله کومې نژدي کوونکي وسیلې دلیدلو دعوه کړي ده.**

**58پوښتنه: یؤ کهکشان په منځني ډول څو ستوري لري؟**

**ځواب: یؤ کهکشان په منځني ډول دري لکه میلیونه ستوري لري؛**

**سبحان الله!**

**59پوښتنه زموږ دکهکشان دشیدو لارې کهشکشان اوږدولی څومره دئ؟**

**ځواب150زره نوري کاله.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**60پوښتنه :په مځکه کي څوډوله غذايي مادي دانسان دخورک لپاره شتون لري؟**

**ځواب: لږووډير 285زره غذايې مادي شتون لري.**

**61پوښتنه: دعطارود سيارې يؤکال څومره دئ؟**

**ځواب :دعطارود سيارې يؤکال 88ورځې دئ چي 44ورځې يې پرلپسي شپه او 44ورځي يې پرلپسي ورځ ده.**

**62پوښتنه :دزهري سيارې يؤ کال څومره دئ؟**

**ځواب: دزهرې سيارې يؤکال 225ورځي دئ چي نيم کال يې شپه او نيم کال يې ورځ ده.**

**63پوښتنه: دعطارود سيارې دتودوخې درجه څومره ده؟**

**ځواب: دورځي دسانتي ګريډ مثبت 20او دشپې منفي 20درجې وي.**

**64پوښتنه :دمريخ ورځ څوساعت ده؟**

**ځواب :دمريخ ورځ 24ساعته ده.**

**65پوښتنه: دمريخ يؤکال څومره دئ؟**

**ځواب دمريخ سيارې يؤکال دمځکې د687کالو سره برابر دئ**

**66پوښتنه: دمريخ دحرارت په اړه راته ووايه؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځواب: دمریخ دحرارت درجه در منفي 70درجو پورکښته راځي**

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**67پوښتنه: دمشتري سیارې ورځ څو ساعته ده؟**

**ځواب: ورځ یې پنځه ساعته ده.**

**68پوښتنه :دمشتري سیاري کال څومره دئ؟**

**ځواب: لکه دمځکې 12کاله:**

**69پوښتنه: دزحل سیارې یوکال څومره دئ؟**

**ځواب: دزحل سیارې یوکال دمځکې د29کالوسره سمون خوري.**

**70پوښتنه :داورانوس سیارې یوکال څومره دئ؟**

**ځواب: لکه دمځکې 48کاله.**

**71پوښتنه: دنپتون یوکال څومره دئ؟**

**ځواب: دنپتون یو کال دمځکې د169کالو سره برابردئ.**

**72پوښتنه:دپلوتو سیارې یو کاله څومره دئ؟**

**ځواب: دپلوتو یو کال دمځکې د247کالو سره سمون خوري.**

**73پوښتنه: که هوا ولاړه وای او مځکه دحرکت په حال کي وای څه به پیښ سوي وای؟**

**ځواب: د1600کیلومتر په اندازه به تیز توپانونه را الوتي وای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**74پوښتنه: که دتوپان تیزوالی په ساعت کي200کیلومترو ته ورسیږي څه به پیښ سي؟**

**ځواب: ستر زیانونه به درشا پریږدي لکه دځینو ونو لمنځه وړل دکورونواو ودانیو نړول او نور.**

**75پوښتنه: که مځکه ودریږي؛حرکت ونه کړي څه به پیښ سي؟**

**ځواب: دورځې دخوا به دتودوخې درجه 350سانتي ګریډ ته پورته سي او دشپې به يې دتودوخې درجه 270سانتي ګریډ ته را ټیټه سي**

**76پوښتنه :دمځکې دمیط اوږدوالی څومره دئ؟**

**ځواب40000زرکیلومتره دي .**

**77پوښتنه: مځکه په یؤه ثانیه کي څومره فاصله وهې ترڅو پرخپل ځان راوګرځي؟**

**ځواب مځکه په هرثانیه کي نیم کیلومتر فاصله طي کوي.**

**78پوښتنه: په یؤه متر ښه زرعتي مځکه کي څومره ژوندي موجودات شتون لري؟**

**ځواب: په یؤ متر زرعتي مځکه کي د دوولکو څخه ډېر چینجیان،سل زر حشرې،دري سوه عادي چینجیان، په زرګونو میلیونه میکروبونه او ډېر نور کوچني موجودات شتون لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**۷۹پوښتنه:دونو پاڼي څنګه تجزيه کيږي؟**

**ځواب :دونې پاڼې دميليونونو ذربيني موجوداتو په مرسته تجزيه کيږي:**

**۸۰پوښتنه: که موږ دسمندر دسطحې څخه 7640يا دهغه څخه لوړ وخيژو څه به راته پيښ سي؟**

**ځواب موږ به بې هوښه سو.**

**۸۱پوښتنه: که دهوا فشار لمنځه ولاړ سي څه به پيښ سي؟**

**ځواب: دانسان په بدن کي سته ګازونه به وپاشل سي او لويي.**
**کلمي،منځنى غوږ،هوايي لارې او انساج به يې وشليږي،وشکيږي.**

**۸۲پوښتنه: په حيوناتو کي کوم حيوان دزلزلې درمخه خبريږي؟**

**ځواب: خر دزلزلې څخه پنځلس دقيقې مخکي خبريږي:**

**۸۳پوښتنه: په توله نړۍ کي په يوه ثانيه کي څومره اورښت کيږي؟**

**ځواب: په يوه ثانيه کي16ميليونه ټنه**

**هرمترمکعب هو په صفر درجه تودوخه کي داوبو.**

**۸٤پوښتنه: څومره بړاس ته ځاى ورکوي؟**

**ځواب: پنځه 5ګرامه داوبو بړاس ته:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۸۵پوښتنه: که دهوا تودوخه شل یادیرش درجې وي څومره داوبو براس،بخار دځان سره وړلی سي؟**

**ځواب: تخمیناً 130ګرامه داوبو براس دځان سره وړلی سي.**

**۸٦پوښتنه: که چیري داوبو انقباض او انبساط ځانګړنه نه وای څه به پیښ سوي وای؟**

**ځواب: دنړۍ پرمخ به هیڅ ژوندی موجود نه وای:**

**۸۷پوښتنه: آیا دمځکې څخه ماسیوا بل ځای اوبه سته؟**

**ځواب په کایناتو کې دابو براسونه کشف سوي چي دهغې جملې ساینس پوهانو داسي براسونه هم کشف کړي دي چي داوبو اندازه یې دومره کیږي چي په یوه ورځ کي دمځکي ټوله سمندرونه شپیته واري داوبو څخه ډک کړي.**

**۸۸پوښتنه: په سمندرونو کي څو ډوله کبان شتون لري؟**

**ځواب د دري میلیونه ډوله څخه ډېر کبان ۸۹پوښتنه په قرآنکریم کي د البر کلمه څو ځله یاده سوي ده؟**

**ځواب: 13ځله.**

**۹۰پوښتنه په قرآنکریم په یوازي ډول دالبحر کلمه څوځله ذکر سوي ده؟**

**ځواب: 33ځله ذکر سوي ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۱پوښتنه: دسمندر په هر ليټر اوبو کي څومره مالګه شتون لري؟

ځواب :دسمندر په هر ليټر اوبو کي۲۷ ګرامه شتون لري.

۹۲پوښتنه: په يوه کال کي دسمندرونو دابو څخه انسانان څومره مالګه په مصرف رسوي؟

ځواب: انسانان هرکال ۵۰میلیونه ټنه مالګه دسمندر څخه په مصرف رسوي.

۹۳پوښتنه دسمندر په هرکيلومتره مکعب سيمه کي څومره مالګه شتون لري؟

ځواب.دسمندر په هرکيلومتره مکعب سيمه کي۳۴ټنه مالګه شتون لري:

۹٤پوښتنه: که دسمندرونو ټوله مالګه را وويستل سي او دشپړو لويو وچو پرسره وچول سي دمځکې سطحه به څومره لوړه سي؟

۹۵پوښتنه: آيا دسمندرونو اوبه دځايه نه خوځيږي؟

ځواب: دسمندرونو اوبه دخوځښت په حال کي دي حتا ځيني وخت در۱۵زرو کيلومترو پوري فاصله وهي.

۹٦پوښتنه: دسمندرونو داوبو دا حرکت دڅشي له کبله صورت نيسي؟

ځواب: داستوا په کرښه کي دلمر دتودوخې له کبله په حرکت راځي.

۹۷پوښتنه: يخي اوبه تودي درني دي که ګرمي؟

ځواب يخي اوبه دګرمو اوبو څخه درني دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۸پوښتنه: دسمندر داوبو دیادو خوځیندني حجم څومره وي؟

ځواب: دیادو خوځښتنو حجم په هردقیقه کي څلورمیلیونه ټنه وي.

۹۹پوښتنه آیا په خلأ،تشیال کي دجاذبې قوه شتون لري؟

ځواب: یا هلته دجاذبي قوه شتون نه لري ځکه خو تشیال کي شیان دالوتو په حال کي قرار نیسي؛لکه ستور مزلي په فضأ یي بیړۍ کي چي دمصنوعي جاذبې قوې څخه ګټه اخلي

۱۰۰پوښتنه: که چیري دمځکې تیزوالی ډېر یادوه چنده سي څه به پیښ سي؟

ځواب ټول توکي او شیان به دفضأ لورته والوزي؛وبه تښي.

۱۰۱پوښتنه آیا دغرونو جګوالی همدمره دئ چي موږ یې وینو؟

ځواب:یاغرونه دمځکې دمخ دجګوالي۲:۳ په تناسب په مځکه کي ښخ دي.

۱۰۲پوښتنه: غرونه ولي دوه برابره نور په مځکه کي ښخ کړل سوي دي؟

ځواب: ترڅو دمځکي پوښونه،پوړونه دیؤبل څخه دمځکې دڅرخیدنې په وخت کي بیل نه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**۱۰۳پوښتنه: آیا دهیمالي دغره لوړځوک ایورسټ چي دسمندر دمخ څخه ۸۸۴۸متره لوړه ده دیاد غره ټوله جګوالی همدومره دئ؟**

**ځواب: یا دهیمالیا دغره ټوله قد دمځکې دتل څخه در سره پوري۲۶۵۴۴ متره دئ.**

**۱۰٤پوښتنه: که غرونه نه وای څه به پیښ سوي وای؟**

**ځواب: مځکه به دښوریدو او لړزیدو سره مخ سوي وای ځکه خو : غرونه په مناسبو ځایونو کي ښخ کړل سوي دي.**

**۱۰۵پوښتنه:سترګه څومره اوږده او وزن لري؟**

**ځواب: دانسان سترګه شاوخوا دونیم سانتي متره او اته ګرامه ده.**

**۱۰٦پوښتنه: زموږ مځکه دڅو حرکتونو لرونکي ده؟**

**ځواب: لومړی په ساعت کي ۱۶۰۰کیلومترو په سرعت سرا را څرخي چي ورځ او شپه ورڅخه منځ ته راځي.**

**دویم دلمرڅخه په ثانیه کي د۳۰کیلومترو په سرعت راګرځي چي دیاد حرکت څخه یې موسمونه منځ ته راځي.**

**دریم دلمر سریځای دخپلې آسمان ټولګې شیدو لاري کهکشان دمرکز څخه په ثانیه کي د۲۳۰کیلومترو په تیزوالي راګرځي.**

**څلورم دشیدو لارې دکهکشان سره یځای په کایناتو نامالوم لوري ته په ثانیه کي د۶۰۰کیلومترو په تیزوالي دحرکت په حال کي ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |

**۱۰۷پوښتنه: هرکال څومره کسان دمار دچیچلو له کبله خپل ژوند دلاسه ورکوي؟**

**ځواب: هرکال په نړۍ کي یولک دېرش زره وګړي دما دچیچلو له کبله خپل ژوند دلاس ورکوي.**

**۱۰۸پوښتنه: دانسان په مغز کي څومره حجرې شتون لري؟**

**ځواب دانسان مغز د۸۶میلیادو عصبي حجرو،ژونکو څخه جوړ سوی دئ**

**۱۰۹پوښتنه: دښځومغز دنارینو دمغز څخه څومره کوچنی دئ؟**

**ځواب: څیړونو په ډګه کړی چي ددې سرببیره چي دښځو مغز دنارینو په نسبت سل ګرامه کوچنی دئ، مګر ښځې دمغز څخه پرځای او ګټوره استفاده کوي.**

**۱۱۰پوښتنه: اورلګیت څنګه اختراع سو؟**

**ځواب: د اورلګیت جوړونکي کبریټ په پیل کي دنوو چاودېدونکو توکو دجوړولو هڅه کول، مګر هغه په تصادفي ډول زموږ په نني ژوند کي د ډیر کاریدونکی اورلګیت اختراع کړ.**

**۱۱۱پوښتنه: دراوسه دنړۍ لویه کښتۍ څنګه جوړښت لري؟**

**ځواب: دنړۍ دلویي بیړۍ پر جوړولو ۲میلیارده ډالره مصرف سوی دئ، ۷۶۰۰مسافرځایوي،**

**اوږدوالی یې ۳۶۰ متره دئ ۷داوبازۍ حوضونه ۶کوچني زرغونه پارکونه ۴۰ هوټلونه لري چي هریوه کي یې دیوه هیواد ځانګړي خواړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**یخیږي او د۱۲ لویو کار خونو په اندازه کاربن ډای اکسایډ ګاز دچاپیریال دککړیدو لپاره تولیدوي.**

**۱۱۲ پوښتنه: دسپینو زرو دځانګړنو څخه دیوې یادونه وکړئ؟**

**ځواب: که دسپینو زرو دپیپونو څخه اوبه تیري سي میکروبه یې لمنځه وړي.**

**۱۱۳ پوښتنه: که غواړو یو لیتر اوبه دباکتریاوو څخه پاکي کړو څومره سپینوزرو ته اړتیاده؟**

**ځوا:موږ دیوه ګرام سپینو زرو میلیاردمه برخه باید په اوبو کي حل کړو**

**۱۱٤ پوښتنه: آیا په سپینو زرو سره دهوا پاکي او ناپاکي مالومواى سو؟**

**ځواب: هو سپین زر دخپل رنګ په بدلون سره موږته ښیي چي په هوا کي زهري ګازونه شتون لري.**

**۱۱۵ پوښتنه: پوهانو دمځکې په قشر کي دڅومره اوسپنې دشتون اټکل کړی دئ؟**

**ځواب: پوهانو اووسوه پنځوس میلیو؛میلیونه ټنه اټکل کړي دي.**

**۱۱٦ پوښتنه: آیا دانسان په بدن کي اوسپنه شتون لري؟**

**ځواب: هو شتون پکښي لري.**

**۱۱۷ پوښتنه: څومره اوسپنه دانسان په بدن کي شتون لري؟**

**ځواب: د انسان په بدن کي تقریبًا دري ګرامه اوسپنه شتون لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**۱۱۸پوښتنه: په يوه ګرام خاوره کي څومره باکترياوي شتون لري؟**

**ځواب: په يوه ګرام خاوره کي ميلياردونه باکترياوي شتون لري.**

**۱۱۹پوښتنه. په ۱۵۵۶ميلادي کال کي په چين کي زلزلې څومره کسان مړه کړل؟**

**ځواب: په هغې زلزلې کي ۸۵۹زرو وګړو خپل ژوند دلاسه ورکړ.**

**۱۲۰پوښتنه: په ۱۷۳۷ميلادي کال کي په هند کي زلزلې څومره کسان مړه کړل؟**

**ځواب: په ياد کال په هند کي ۱۸۰زره نفره زلزلې ووژل.**

**۱۲۱پوښتنه په ۱۹۲۳ کال کي په جاپان کي زلزلې څومره کسان مړه کړل**

**ځواب: په ۱۹۲۳کال کي زلزلې په جاپان کي يولک کسان ووژل.**

**۱۲۲پوښتنه: عين القط ستور دمځکې څخه څومره ليري دئ؟**

**ځواب: تخميناً ۱۳نوري کاله.**

**۱۲۳پوښتنه:د دري زرم ميلادي کال د مارچ دمياشتې پر ۲۱نيټه به سهار لمر پر څو بجې راوخيږي؟**

**ځواب: په هغه سهار به لمر پر ۶بجي او ۱۰دقيقي راوخيږي.**

**۱۲٤پوښتنه: درڼا،نور سرعت،تيزوالی په يو ثانيه کي څومره دئ؟**

**ځواب: دنور،رڼا دقيق تيزوالی په ثانيه کي ۲۹۹۷۹۲،۵ کيلومتردئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
| --- | --- |

**125پوښتنه :سپوږمۍ دځان او مځکې څخه په څو ورځو کي راګرځي؟**

**ځواب: سپوږمۍ په ۲۹ورځو او شپږ ساعته کي دځان او مځکې څخه راګرځي.**

**۱۲۶پوښتنه: سپوږمۍ هره ورځ درمخکنۍ ورځې څو دقیقې ورسته را خیژي؟**

**ځواب: ۴۹قیقو ورسته .**

**۱۲۷پوښتنه: د سپوږمۍ لویوالی څومره دئ؟**

**دسپوږمۍ لوایوالی دمځکې د ۸۰برخي سره برابر دئ**

**۱۲۸پوښتنه: که یو شپېته کیلو ګرامه انسان موږ په سپوږمۍ کي وتلو څو کیلو ګرامه به سي؟**

**ځواب: لس کیلو دمځې څخه کم ۸۰کیلو ګرامه به سي.**

**۱۲۹پوښتنه: که سپوږمۍ دمځکي څخه لږ نوره لیري سي څه به پیښ سي؟**

**ځواب: د جزر او مد پیښه به رامنځته سي یانې دسمندرونو اوبه به لوړي را پورته سي، ټوله مځکه به ونیسي او ژوند به دکړاونو څخه ډک سي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

۱۳۰پوښتنه: دسپوږ مۍ رڼا دلمر درڼا دڅويمي برخې سره برابره ده؟

ځواب: دسپوږمۍ منعکسه رڼا دلمر د رڼا داتلسمي برخي سره برابره ده.

۱۳۱پوښتنه: د الله جل جلاله دياد او ذکر بيان دقرآنکريم په څو آياتونو کي راغلی دئ؟

ځواب: ددرو سو څخه په زياتو آياتونو کي.

۱۳۲پوښتنه: که دمځکې او لمر ترمنځ دجاذبې قوه لمنځه ولاړه سي څه به پيښ سي؟

ځواب: مځکه مځکه به دخپل تګ لوري څخه ووځي ياني دخپل مدار څخه به ليري سي او دخلأ دتاريکيو په منځ کي به لا لهانده منفي ۲۷۰درجې کي يخی سي.

۱۳۳پوښتنه: دلمر او مځکې ترمنځ دجاذبې قوه که په وزن واړو څومره کيږي؟

ځواب: داسي به وي ۱ميليون×۱ ميليو×۲ميليونه ټنه

۱۳٤پوښتنه: آيا مځکه په خپل مدارکي تل په يؤه ډول سرعت سره دحرکت په حال کي ده؟

ځواب: يا؛مځکه دخپل مدار په کوچني قطر درلودنکي برخه کي تيزه اوپه لوی قطر درلودونکي برخه کي يې سرعت کميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**۱۳۵پوښتنه: که چیرې مځکه دلمر په غیږ کي وغورځول سي څه به پیښ سي؟**

**ځواب: په ډېر لږوخت کي به تبخير سي .**

**۱۳۶پوښتنه لمر په ثانیه کي څومره تودوخه تولیدوي؟**

**ځواب: ددوزرو میلیاردو ټنو د ډېرو سکرو دتودوخې په اندازه.**

**۱۳۷پوښتنه: داټکلونو دمخي دلمر ژوند څومره تیرسوی دئ؟**

**ځواب: پنځه زره میلیونه کاله تیرسوی دئ:**

**۱۳۸پوښتنه: لمر په څومره وخت کي دخپل ځان څخه راګرځي؟**

**ځواب په ۲۵،۵ ..ورځوکي**

**۱۳۹پوښتنه: لمر په خلأ کي دلمریز نظام په ګډون دجنوب څخه دشمال لورته یا که ووایوو یؤ ناملوم لورته په څومره سرعت دحرکت په حال کي دئ؟ ځواب لمر دلمریز نظام په ګډون۱۹،۵ کیلومترو په سرعت د حرکت په حال کي دئ.**

**۱٤۰پوښتنه: انسان په خلأ؛فضأ یا تشیال کي در اوس څومره مخته تللی دئ؟ ځواب داټکل لمخي یؤازي یؤه نوري ثانیه، چي انسان ادعا کوي سپوږمۍ ته ختلی دئ.**

**پوښتنه: هغه فضأیې بیړي چي ساینس پوهان پرې غرورکوئ چي فضأپري فتحه کوو شالنجر فضایي بیړي څومره تګ په خلأ کي وکړ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: يځوازي اويا ثانيې او بيا د اور په لمبو لولپه سول.

۱٤۲پوښتنه: دلمر څخه د اورڅپي درڅومره ليري ځای پوري ځي؟

ځواب دلمر ياد توپانونه ديځ ميليون کيلومترو يا دهغه څخه ډېر دلمرڅخه ليري خپرېږي.

۱٤۳پوښتنه: که موږ دسمندر دسطحي څخه ناڅاپه ډېر لوړ ولاړسو دبيلګې په ډول غره ته وخيږو څه به راته پيښ سي؟

ځواب: که موږ دسمندر دسطحي مخ څخه ۲۵۰۰۰فوټه، ۷۶۲۰متره لوړ ولاړسو چې حتا ځينو کسان که ۱۶۰۰۰فوټه ۴۸۷۷متر لوړ ولاړسي نو دساه بتدئ؛ساه لنډئ ستونزه به ورته پيداسي.

۱٤٤پوښتنه: آيا نباتات،مرغان او حشرات دالله جل جلاله ستاينه کوي؟

ځواب: هو ټول مخلوقات دالله جل جلاله ستاينه کوي؛سورت نور۴۱نمبرايات شريف او سورت حشر نمبرآيات شريف تلاوت کړئ.

۱٤۵پوښتنه: آيا دقرآنکريم تلاوت کول،نباتاتو ته نازورکول دهغوئ پر حاصل اغېزه لري؟

ځواب: هو دهغوئ دښه ودې او حاصل دډېرښت لامل کيږي په کايناتو کي دقرآنکريم علمي معجزې کتاب وګورئ چې ددې کتاب يځ ماخذ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۶پوښتنه: په شنه پاڼې کې اوبه په څشي تجزيه تجزيه کيږي؟**

**ځواب: په پاڼه کې اوبه په هيدوجن او اکسجين تجزيه کيږي.**

**۱۴۷پوښتنه: موږ څومره قدرت ته اړتيا لرو چي په هغه هيدورجن او اکسجين تجزيه کړو؟**

**ځواب: موږ دو زره سانتي ګريډ درجې تودوخې ته اړتيا لرو ترڅو اوبه په هايدروجن او اکسيجن تجزيه کړو.**

**۱۴۸پوښتنه: ددې لپاره چي په نړۍ کې دغازونو اندازه ثابته پاته سي، ونې کومې چارې مخته وړي؟**

**ځواب :ونې دياد کار لپاره ۱۰۰بيليونه دکاربن ډای اکسايډ ګاز او ۲۵بيليونه هايدروجن ګاز په غذايي موادو او سل بيليونه اکسيجن ګاز بدلوي.**

**۱۴۹پوښتنه: ديؤي منځنۍ ونې پاڼه په يؤ ساعت کې څومره غذايي مواد توليدوي؟**

**ځواب: ديؤي منځۍ ونې پاڼه په يؤ ساعت کې يؤ کيلو ګرام غذايي مواد توليدوي.**

**۱۵۰پوښتنه: دمصر په اهرامونو کې دڅو کالو زاړه خو فعال تخمونه موندل سوي دي؟**

**ځواب: دمصر په اهرمونو کې ۶۰۰۰کاله زاړه دکرنې وړ تخمونه موندل سړي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**۱۵۱پوښتنه: آیا دمعدې تیزب چې سختې غوښې تجزیه کوي دتخمونو دتجزیي وړتیا لري؟**

**ځواب: یا تخمونه په سختو شرایطو کي ځان خوندي ساتلی سي ځکه : هغوئ الله جل جلاله هم داسي خلق کړي چې دخپلو پوښونو په مرسته په سختو حالاتو کي خوندي پاته سي ځکه خو دمعدې تیزاب هم دنباتاتو تخمونه نه سي تجزیه کولی.**

**۱۵۲پوښتنه: سره غالبوز دشیري شاتو دراټولو او هګی پټولو ورسته څه په کیږي؟**

**ځواب: سره غالبوز دخپلو هګیو او راټولو کړو شاتو په خاوره کي : درپټولو ورسته مري او بچي یې دهګی څخه در راوتلو ورسته په خپل چرګیني کي دیؤه کال خورکه موندي.**

**۱۵۳پوښتنه: مرغان دخپلو چیچانو دغټولو لپاره هغوئ ته څوځله خواړه ورکوي؟**

**ځواب: ځیني مرغان شتون لري چي خپلو چیچانوته ۱۳۰۰ځله خواړه ورکوي.**

**۱۵٤پوښتنه: کله چي داوښې جونګی مړسي څشي کوي؟**

**ځواب: ژاړي.**

**۱۵۵پوښتنه: اسپه دجونګي دمرګ ورسته څه کوي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: یؤجالب شیشنی کوي؛همدارنګه مړي ته یې څوک نیژدي نه پریږدي ځیني وخت خورک او څښاک بندوي.

۱۵۶پوښتنه:په نړۍ کي څومره اوښان شتون لري؟

ځواب په نړۍ کي د۱۵میلیونو څخه ډېر اوښان شتون لري.

۱۵۷پوښتنه: داوښ دناړو یؤه ځانګړنه څشی ده ؟

ځواب: د اوښ ناړې دسختو شیانو لکه ازغو،ځوځانو دتجزیه کولو وړتیا لري.

۱۵۸پوښتنه: که اوښ خوړو ته لاس رسۍ ونه لري خواړه دکومه پوره کوي؟

.ځواب: دخپلو بوکونو څخه.

۱۵۹پوښتنه: داشانو منځنی همر څوکاله دئ ؟

ځواب: داوښانو منځنی عمر ۴۰کاله دئ:

۱۶۰پوښتنه: دغوا په شیدو کي څشي شتون لري؟

ځواب: دغواشیدي تخمینً ۹۳ سلنه اوبه جوړوي او خوړه،پرټینونه،معدني مواد،کلسیم،فسفر اوای بی سی ډی ویټامیونون شتون پکښي لري.

۱۶۱پوښتنه: دغواشیدي دڅشي څخه ترلاسه کیږي؟

ځؤاب :دوینې څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**۱٦۲پوښتنه: د زرافې سترګې دخپل شاوخوا څومره ليدل کولی سي؟**

**ځواب: د زرافې سترګې دخپل شاوخوا ۳٦۰درجي ليد کولی سي.**

**۱٦۳پوښتنه :د زرافو دغاړې اوږدوالی څومره دئ؟**

**ځواب: دځينو زارافو دغاړې اوږدوالی يونيم متر ته رسيږي.**

**۱٦٤پوښتنه: آيا داسي ژوی سته چي هيڅ اوبه نه څښي؟**

**ځواب: هو په دکانګرو په شان يؤ ژوی دئ چي هيڅ اوبه نه څښي حتا دابو په څښاک سره مړ کيږي.**

**۱٦٥پوښتنه: آيا دسمندرونو داوبو ترمنځ توپير سته؟**

**ځواب: هو دهر سمندر اوبه ځانته ځانګړی غلظت،تودوخه،او تريوالی : لري، او دهغوئ په منځ کي ديوالونه،خنډونه شتون لري چي اوبه يې ديؤبل سره نه ګډيږي.**

**۱٦٦پوښتنه: آيا دسمندرونو په منځ کي ياد دېوالونه،خنډون پريؤه ځای ثابت ولاړوي که په خوځښت کي دي؟**

**ځواب: ياد دېوالونه ثابت نه دي دزلزلو او بادونو په مرسته خپل ځای ته بدلون ورکوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٦٧پوښتنه: که موږ یو نبات سرچپه کښېږدو آیا ریښې به یې لوړي او پاڼې به یې کښته لورته ولاړې سي؟

ځواب: نه نبات طبعاً داسي خلق سوی چي ریښې یې کښته او ساقه یې : لوړ لورته پورته کېږي.

۱٦۸پوښتنه: دځینو نباتاتو ریښې څومتره په مځکه دننه کېږي؟

ځواب: داسي نباتات شتون لري چي ریښې یې در ۳۰مترو پوري په مځکه کي لاندي لور ته ځي.

۱٦۹پوښتنه: که نباتات اوبه نکړو لومړی کومې اوبه کاروي؟

ځواب: لومړی دپاڼو، بیادڅانګو،ښاخونو او ورسته یې ریښې وچېږي که لومړی یې دریښو اوبه کارولی نباتات به ژر وچیدای.

۱۷۰پوښتنه: آیا دنباتاتو دابوڅخه دڅښلو لپاره ګټه اخیستلی سو؟

ځواب :هو په ځینو دښتو او وچو سیمو کي داسي ونې شتون لري چي در دري زرو لیترو پوري اوبه پکښې خوندي وي ترڅو ترږي انسانان یې د څانګو او ښاخونو په پري کولو سره دهغوئ په منځ کي په خوندي سوو اوبو ځانونه اوبه ولی سي.

۱۷۱پوښتنه: آیا دونو پاڼې یو کوچنئ کارخونه،فابریکه نه ده؟

ځواب: دونو پاڼې کوچنی خورا ډېر پیچلي فابریکي دي چي دنباتاتو ټوله وده پر همدې پاڼو پوري ترلي ده، کله چي یوه پاڼه لمرته مخامخ سي په یوه دقیقه کي شل عضوي مرکبوته جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**۱۷۲پوښتنه: دهندي جوز تخم څومره کوچنی دئ؟**

**ځواب: دهندي جوز تخم دومره کوچنی دئ چي په هرګرام کي ۷۰۰۰۰ دانې شتون لري.**

**۱۷۳پوښتنه: آیا تخمونه ژوند لري؟**

**ځواب:هو تخمونو کي ژوند دئ او دوئ خپل په ځان کي تغذیه کیږي.**

**۱۷٤پوښتنه آیا داسي تخمونه سته چي وزرونو ته ورته جوړښتونه ولي؟**

**ځواب : هو سته چي دهغو په مرسته په هوا سلګونه کیلومتره لاره وهي**

**۱۷٥پوښتنه په شام او مصر کي لومړی چا دکوترو په مرسته دلیکونواستول پیل کړل؟**

**ځواب: دهغه وخت دشام اومصر امر نورالدین الشهید دکوترو په مرسته پستي خدمات یا دلیک لیږولو خدمات په کار وچول.**

**۱۷٦پوښتنه: په نړۍ کي څو ډوله لیک لیږدونکي کوترې شتون لري؟**

**ځواب دپوهانو په وینا ٥۰۰ډوله لیک وړونکي کوتري شتون لري.**

**۱۷۷پوښتنه: لیک وړونکي کوترې بیله دمې څومره مزل کوي؟**

**ځواب: زرکیلومتره.**

**۱۷۸پوښتنه: دلیک وړونکو کوترو سرعت څومره دئ؟**

**ځواب: په ساعت کي ٦۰کیلومتره لار طی کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |

**۱۷۹پوښتنه: نورالدين الشهيد دڅو ليک وړونکو کوترو څخه کټه اخيستي ده؟**

**ځواب: د ۲۰۰۰ليک وړونکو کوترو څخه.**

**۱۸۰پوښتنه :مرغان څنګه خپله لار پيداکوي؟**

**ځواب: دهغوئ په سر کي رادار ته ورته سيستم دئ چي دمځکې. دمقناطيسي ميدان په مرسته خپله لار پيدا کوي.**

**۱۸۱پوښتنه: مرغان ترڅو مترو لوړ الوتلی سي؟**

**ځواب: داسي مرغان،الوتونکي سته چي دسمندر دمخ څخه۹۰۰۰متره لوړ الوتنه کوي،بيلګه يې دايورسټ دڅوکي پر سره دمرغانو الوتنه ده**

**۱۸۲پوښتنه: دانسان زړه څومره بريښنا توليدوي؟**

**ځواب :دانسان زړه دولټ سلمه برخه بريښنا توليدوي.**

**۱۸۳پوښتنه: آيا بريښنا يي جرکه،کرنټ ورکوونکي کبان شتون لري؟**

**ځواب:هو په سمندرونو کي داسي کبان شتون لري چي ۶۰۰ولټه بريښنا يي جټکي،جرقي دخطر په وخت کي دځانه توليدوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| **ننګونکي پوښتنې** | **او ځوابونه** |

**۱۸٤پوښتنه: آیا په سمندرونو کي داسي کبان سته چي دنورو کباتو درملنه کوي؟**

**ځواب: هو یؤ ډول کوچني کبان دي چي خورک يې دلوی کبانو دچرک او نو خوړل دي کله کله لوی کبان دهغوئ خواته راځي ترڅو دهغوئ دزخمونو څخه چرک اونوونه وخوري او ددوئ زخمونه په دي کار سره ژر ورغيږي.**

**۱۸۵پوښتنه: دمرغانو دبدن دخنکوالي سیسټم څنګه جوړ سوی دئ؟**

**ځواب: داسي چي دبدن هري برخې ته يې کوچني دهوا پیپونه ته ورته جوړښتونه ورغلي ترڅو دهغوئ بدن خنک وساتي.**

**۱۸٦پوښتنه: مرغان دڅومره ځای څخه خپل ښکار ويني؟**

**ځواب:ځيني مرغان خپل ښکار د۲۰۰۰متره ليري څخه ليدلی سي.**

**۱۸۷پوښتنه: دښکاري باز سرعت دښکار په وخت کي څومره وي؟**

**ځواب:دښکاري باز سرعت دښکار په وخت ۳۵۰کيلومتر پرساعت ته رسيږي.**

**طلايي الکردان بيله دريدلو په يؤ ځل څومره لار طی کوي؟**

**ځواب :طلايي الکردان بيله دريدلو په يؤ ځل ۵۵۰۰کيلومتره لار طی کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸۸پوښتنه: سمندري ښکاري سپین مرغه د یخنۍ څخه دتیښتي لپاره څومره محاجرت کوي؟**

**ځراب:۹زره کیلومتره .**

**۱۸۹پوښتنه: آیا ددې مرغانو څخه هم اوږده مزل کوونکي مرغان سته؟**

**ځواب :هو ددې مرغانو یؤبل ډول دشمالي.**

**منجمدسمندرڅخه جنوبي منجمد سمندر پوري ۳۲زره کیلومتره فاصله طی کوي.**

**۱۹۰پوښتنه: انسان دخوګ،خنزیر دغوښې په خورک سره په کومو ناروغیو اخته کیږي؟**

**ځواب: د کدو داني دچیني؛ نسناستي؛امیبي ډیزنټري،ژړي،دزړه دوالونو دتنګیدو او نورو ناغیوباندي اخته کیږي.**

**۱۹۱پوښتنه دسپیانو څخه څو ناروغۍ انسانانوته لیږل کیږي؟**

**ځواب: ۳۶ناروغۍ چي مشهوره یې دلیوني سپي ناروغي ده.**

**۱۹۲پوښتنه دسپي څخه وه انسان ته دناروغۍ دلیږد سلنه څومره ده؟**

**ځواب: دسپي څخه انسان ته دناروغیودلیږد اندازه ۹۲سلنه ده**

**۱۹۳پوښتنه دپیشي څخه وه انسان ته دناروغۍ دلیږد سلنه څومره ده؟**

**ځواب: دپیشي څخه انسان ته دناروغیودلیږد اندازه ۷ سلنه ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**194پوښتنه: دسپي په پزه کي څو بويايي حجري شتون لري؟**

**ځواب: دسپي په پزه کي ۵۰ميليونه بويايي ژونکي،حجرې شتون لري**

**۱۹۵پوښتنه: سپی څومره بويونو ته په خپله حافظه کي ځای ورکولی سي؟**

**ځواب: ميليونونو بويونو ته ځای ورکولی سي.**

**۱۹۶پوښتنه: که موږ پنځوس ليټرو اوبوته يؤه کوچنۍ کاچوغه مالګه ور واچوو آيا سپی به هغه وپيژني؟**

**ځواب: هو سپی دخپل پياوړي بويايي حس په مرسته هغه اوبه دنورو پنځوس ليټرو څخه بيلوالی سي.**

**۱۹۷پوښتنه: دبدن وينه دڅشي په مرسته داضافي موادو څخه پاکيږي؟**

**ځواب: دبدن وينه دپښتورګو په مرسته داضافي،او زهري توکو څخه پاکيږي.**

**۱۹۸پوښتنه: په اسلام کي دوينې دخوړلو حکم څشي دئ ؟ځواب:په اسلام کي دوينې دخوړل حرام دي.**

**۱۹۹پوښتنه: آس څومره بار وړلی سي؟**

**ځواب:دخپل بدن څلورمه برخه.**

**۲۰۰پوښتنه: آيا آس په زړيدو سره دنسل توليد دروي؟**

**ځواب:نه آس چي زوړ هم دنسل دتوليد وړتيا لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |

**۲۰۱پوښتنه: دآس حافظه څنګه ده؟**

**ځواب: آس پیاوړي حافظه لري په کومه سیمه کي چي اوسیږي دهغې سیمي ټولې لارې ورته مالومي وي.**

**۲۰۲پوښتنه: آیا آس دخپل خاوند ږغ پیژني؟**

**ځواب:هو آس دخپل خاوند ږغ او دسپرتیا،چلولو طریقه پیژني او یو وفادره ژوی دئ.**

**۲۰۳پوښتنه: دنیلي کبان په نامه کبان چي شمېر یې ۱۵۰زروته رسیږي څومره وزن او اوږدوالی لري؟**

**ځواب:دنیلي کبانو وزن ۱۳۰ټنه او اوږدوالی یې ۳۵مترو ته رسیږي.**

**۲۰۴پوښتنه: یاد کبان څومره مزل کوي؟**

**ځواب: هغوئ دشمالي قطب څخه دمځکي جنوبي قطب پوري اوږده مزلونه کوي.**

**۲۰۵پوښتنه. یاد کبان دیخ او تودوخې پر وړاندي کوم دفاعي وسیله لري؟**

**ځواب: یاد کبان ډبل پوستکی لري چي پنډوالی یې یوه متر ته رسیږي.**

**۲۰۶پوښتنه: یاد نیلي کبان څومره خورک کوي؟**

**ځواب:دوئ دځلورو ټنو څخه په کمو خوړو نه مړیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۰۷پوښتنه: آیا داسي کبان سته چي انسان وچیچي او دمړني لامل یې سي؟**

**ځواب: هو دهلامي په نامه کبان شتون لري چي که انسان وچیچي او پروخت مرسته ورسره ونه سي نو دمړینې لامل یې کیږي.**

**۲۰۸پوښتنه: آیا یاد کبان سترګې او غوږونه لري؟**

**ځواب: یا یاد کبان سترګې او غوږونه نه لري.**

**۲۰۹پوښتنه لړم څومره وخت بیله خوړو او اوبو ژوند کولی سي؟**

**ځواب لړم کولی سي بیله خوړو او اوبو دري کاله ژوندی پاته سي.**

**۲۱۰پوښتنه :لړم په اوبو کي څومره وخت خپله ساه بنده ساتلی سي؟**

**ځواب: دوې ورځې.**

**۲۱۱پوښتنه: که موږ لړم دمیکروبونو څخه ډک لوښي ته واچوو میکروبه به پرهغه کومه اغیزه وکړي؟**

**ځواب: یا پرلړم به میکروبونه هیڅ اغیزه ونه کړي.**

**۲۱۲پوښتنه آیا لړم وینه لري؟**

**ځواب: یا لړم دوینې پرځای یوه ژړ رنګه ماده لري.**

**۲۱۳پوښتنه: آیاپرلړم هستوي چاودنه کومه اغیزه کوي؟**

**ځواب نه که مستقیم یې ښکارنه سي کومه اغیزه پري نه کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۱٤پوښتنه: دانسان لپاره څومره تودوخه اویخ سخت دئ؟**

**ځواب درڅلویښت درجي لوړ او صفر درجه تودوخه کي انسان په زحمت کیږي.**

**215پوښتننه:آیا زهري درختي شتون لري؟ ځواب:هو مانچینل یؤه ونه ده چي که یې میوه وخوړل سي په یؤدقیقه کي انسان وژني او که وه دودول سي انسان ړندوي.**

**216پوښتنه:رزژولیت ګل په څومره وخت کي ګلونه کوي.**

**ځواب:یاد ګل په پنځلس کالو کي ګل کولو ته رسیږي.**

**217پوښتنه:دلړم زهر څومره قیمت لري؟**

**ځواب:لس میلیونه ډالر .**

**218پوښتنه:دڅومره لړمانو څخه یؤ لیټر زهر په لاس راځي؟**

**ځواب: داوولکو لړمانو څخه.**

**219پوښتنه:دانټرنیټ د مزي کیبل اوږدوالی څومره دئ؟**

**ځواب: دراوسه دیاد مزي اوږدوالی په سمندرونو کي ۲ ۱لکه کیلومتره دئ.**

**220پوښتنه:د مرغانو ترټولو لوړو پرواز څومره دئ**

**ځواب:در اوسه چي دمرغه لوړ پرواز ثبت سوي لوړوالی یې ۱۱زره ۳۰۰متره دئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



221پوښتنه:ایسکریم لومړی چا جوړ کړ؟

ځواب: چینایانو.

222پوښتنه:دانسان حافظه څومره ده؟

ځواب:پنځویشت لکه جي بي، داسوال دنویو مالوماتو پر بنسټ دئ.

223پوښتنه:په هرثانیه کي دشاتو مچي څو ځله وزرونه رپوي ؟

ځواب: ۴۵۰ځله.

224پوښتنه:په هرثانیه کي مچ څو ځله وزرونه رپوي ؟

ځواب350 ځله.

225پوښتنه: میږیان څنګه ژوند لري؟

ځواب: میږیان دانسانانو په شان ټولنیز ژوند لري چي یوازي ژوند نه سي کولی.

226پوښتنه:که یو وړی میږي دموړ میږي سره مخ سي څه کیږي؟

ځواب: موړ میږي وږي میږي ته دخپلې خیټې دذخیره سو خوړو څخه خواړه ورکوي.

227پوښتنه: دمیږیانو مشري څوک کوي؟

ځواب: دهغوئ ملکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**228پوښتنه: دمېږيانو ملکه کوم کارونه کوي؟**

**ځواب: هګۍ اچوي او مېږيانو ته کارونه ور ويشي.**

**229پوښتنه: ښځينه مېږيان کوم کارونه کوي؟**

**ځواب: دکوچنيو مېږيانو پالنه او روزنه کوي.**

**230پوښتنه: آيا ساتونکی مېږيان سته؟**

**ځواب: هو يؤ شمېر مېږيان چي خول ته ورته لوی سرونه لري دنده يې دملکې او ښار ساتنه ده.**

**231پوښتنه: نور مېږيان کوم کارونه کوي؟**

**ځواب: ځيني مېږيان ښار پاکوي، بله دنده يې دمړو مېږيانو دښار ايستنه او ښخول دي او ځيني مېږيان دښار د دباندي څخه خواړه راوړي.**

**232پوښتنه: آيا دحشراتو پالونکي مېږيان هم شتون لري؟**

**ځواب:هو ځيني مېږيان حشرات پالي ترڅو دهغوئ څخه شات ترلاسه کړي.**

**233پوښتنه: آيا مېږيان دخوړو ساتن ځايونه لري؟**

**ځواب: هو مېږيان په خپل ښار کي کړي وړي کوټې،خونې جوړوي او دهغو څخه دګودامونو دخوړو دساتنې دخونو په توګه ګټه اخلې،پريادو ګودامونو ساتونکي هم ولاړ وي چي دخوړو ساتنه وکړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**234پوښتنه: آیا میږیان کښت،کرکیله کوي؟**

**ځواب :هو لکه څنګه چي دشاتو دلاس ته راوړلو لپاره حشرې پالې همداسي ځیني میږیان دځینو نباتاتو کرکیله کوي.**

**235پوښتنه: میږیان څنګه خپل لار پیداکوي؟**

**ځواب: میږیان پر لارې دتګ پروخت یوه کیمیاوي ماده ترشح کوي او همدغه رکم دکوم خورک دموندلو په وحت کي هم دهغه شاوخوا یاده ماده ترشیح کوي ترڅو په آسانۍ بیا اړوند مواد ومومندي.**

**236پوښتنه: میږیان څومره وزن وړلی سي؟**

**ځواب: دخپل وزن دوه برابره وزن دځان سره لیږدوي.**

**237پوښتنه:کله چي میږی مري څه کوي؟**

**ځواب: خپل شاوخوا ته یوه کیمیاوي ماده پاشي ترڅو نور میږیان دهغوئ مړی په آسانۍ سره پیدا کړي.**

**238پوښتنه: آیا میږیان خبرې کولی سي ؟**

**ځواب: هو دمیږیانو په سر او خیټه کي ځیني غدې شتون لري چي یادې غدې دکیمیاوي پیغامونو دلیږد وړتیا لري، چي همدا دمیږیانو یوډول خبرې دي.**

**239پوښتنه :میږیان په کومو ډولونو دیوبل سره خبرې کوي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: کیمیاوي خبرې،ږغیزه پوهونه، دحرکاتو ژبه،دبویایي حس ژبه او اشاروي ژبه.

240پوښتنه: دمیږیانو څو سترګي اوپښې دي؟

ځواب: میږیان پنځه سترګې او شپږ پښي لري دنارینه میږیانو سترګي دښځینه میږیانو دسترګو څخه غټې دي.

241پوښتنه: آیامیږیان ماورأ بنفش وړانګي لیدلی سي؟

ځواب: هو.

242پوښتنه: دمیږیان چي دهګۍ څخه را ووځي څه کوي؟

ځواب: کله چي دهګۍ څخه را ووځي ۷ اونۍ خواږه خوري او ورسته یؤ وریښمین توپ دځان لپاره اوبدې او دڅو ورځو خوب ورسته راکښیني.

243پوښتنه: آیا میږیان سره جنګیږي؟

ځواب: هو دمیږیانو ترمنځ خونړۍ جګړې کیږي دانسانو دتورو جنګونو ته ورته په صفونو کي دریږي اویؤبل زخمي او وژني،دجنګ دمیدان مړي دښار دباندي باسي او نیول سوي میږیان دمریانو په شان ساتي.

244پوښتنه: حشرت ولې حسي ښکرونه لري؟

ځواب: یاد حسي مزي یا ښکرونه یې دانسان په لاس جوړ سوي رادار په شان کار کوي،دوئ په هغو خبرې،پلټه کوي او بیلا بیل حسونه پکښني راغونډ سوي دي لکه دبویایي، او تودوخې مالومونکي حسونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

245پوښتنه: ملخ په یؤه ورځ کي څومره خواړه خوري؟؛

ځواب:دومره لکه څومره چي دهغه وزن.

246پوښتنه: په یؤ کیلومتر مربع مځکه کي څومره ملخان شتون لري؟

ځواب: ځیني وخت په یؤه کیلومتر مربع مځکه کي د۲۰څخه درسلومیلیونو ملخان شتون لري.

247پوښتنه: دملخانو دلویو لښکرو اوږدوالی څومره وي؟

ځواب :ځیني وختونه دملخانو دلښکرو اوږدوالی ۴۰۰کیلومترو ته رسیږي.

248پوښتنه: دملخانو دلښکرو شمیر څومره وي؟

ځواب: ځیني وختونه یې دلکرو شمېر ۴۰میلیونوته رسیږي.

249پوښتنه: دغوماشي په سر کي څو سترګې دي؟

ځواب: غوماشه سل سترګې لري.

250پوښتنه: غوماشه څو غاښونه لري؟

ځواب: دغوماشې په خوله کي ۴۸غاښونه شتون لري.

251پوښتنه:په هرثانیه کي غوماشه څو ځله وزرونه رپوي ؟

ځواب: 600 ځله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



252پوښتنه: غوماشه څو زړونه لري؟ ځواب :غوماشه په خپله سینه کي دري زړونه لري.

253پوښتنه: غوماشه موږ په تاریکه کي څنګه پیداکوي؟

ځواب: دخپل رادار په مرسته چي رادار یې تودوخه کشفوي.

254پوښتنه: د یاد رادار دقت څومره دئ؟

ځواب: دغوماشې رادر دیؤه سانیګریډ زرمه برخه تودوخه کشفوي.

255پوښتنه :غوماشه درچیلو وړاندي زموږ بدن څه په کوي؟

ځواب: غوماشه زموږ پوستکی در چیچلو وړاندي بې حسه کوي.

256پوښتنه: ښځه جولاګۍ ځاله جوړوي که نر؟

ځواب: ښځه جولاګۍ،غنې ځاله جوړوي.

257پوښتنه کله چي جولاګۍ ځاله جوړه کړي څه کوي؟

ځواب: نارینه جولاګۍ ځالې ته په ځینو حرکاتو رابولي او در القاح ورسته هغه خوري، دهګۍ څخه دچیچیانو در راوتلو ورسته هغه هم خوري، حتا ځیني چیچیان نور چیچیان خوري.

258پوښتنه: که موږ په حشره وژونکی زهرو باندي مچان ووژنو او یؤه ښځینه مچ پاته سي څه به وسي؟

ځواب: هغه ښځینه مچ به داسي نسل تولد کړي چي هغه زهر به بیا پري اغیزه نه کوي،دویم نسل به دهغو زهرو سره مقاوم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**259پوښتنه: دمچانو سترګې څنګه جوړي سوي دي؟**

**ځواب: که دمچ سترګه دمیکروسکوپ لاندي وګورو وبه وینو چي دمچ سترګه دزرګونو عدسیو څخه جوړه سوي ده.**

**260پوښتنه: مچ څنګه لیدل کوي؟**

**ځواب: مچ هرتېز شي په سلوموشن یا ورو ډول سره ویني که نه تاسو دلاس په مرسته دهغه دنیولو کوښښ وکړئ.**

**261پوښتنه: مچ څنګه الوتنه کوي؟**

**ځواب: مچ داسي الوتنه کولی سي چي دهغه ډول الوتنې څخه پرمختللې الوتکې عاجزه دي،مچ ناڅاپه خپل تګلوري ته ۹۰درجې بدلون ورکولی سي.**

**262پوښتنه: مچ څومره میکروبونه دځان سره لېږدوي؟**

**ځواب: مچان دځان سره ۵۰۰میلیونه میکروبونه وړي.**

**263پوښتنه: آیا دمچ په یؤه وزر کي زهر او په بل کي درمل دي؟**

**ځواب: هو دمچ په یؤه وزر کي میکروبونه او په بل کي یې دهغه میکروب ضد ماده شتون لري.**

**264پوښتنه: مچان په څومره وخت کي ځای بدلوي؟**

**ځواب: ډېر ژر کوم مچان چي نن ستاسو په کوټه کي ښایي سبا ستاسو څخه لس کیلومتره لیري تللې وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |

**265پوښتنه: آیا مچ ته درد ورځي؟**

**ځواب: هو مچ عصباني کيږي او د درد احساس هم کوي.**

**266پوښتنه: دمچ دمغزو وزن څومره دئ؟**

**ځواب :دګرم يؤميليونيم برخه .**

**267پوښتنه: مچان څو ډولنه لري؟**

**ځواب: مچان دزر ډوله څخه ډير ډولونه لري.**

**268پوښتنه: دشاتو مچۍ دڅوګلونو څخه يؤ څاڅکی شات په لاس راوړي؟ ځواب: دزرو ګلونو څخه ډېرو ګلونو څخه يؤ څاڅکی شات په لاس راوړي.**

**269پوښتنه: ددې لپاره چي دشاتو مچۍ يؤ ګرام شات تيار کړي بايد پرڅو ګلانو کښينې؟**

**ځواب :ددې لپاره چي دشاتو مچۍ يؤ ګرام شات تيار کړي بايد پر يؤ ميليونو ګلونو کښيني او شيره ورڅخه راټوله کړي.**

**270پوښتنه: دشاتو دمچۍ تيزوالی دالوتنې په وخت کي څومره وي؟**

**ځواب: دشاتو دمچۍ تيزوالی دالوتنې په وخت کي په ساعت کي د۶۵کيلومترو څخه ډيريږي.**

**271پوښتنه: کله چي دشاتو دمچۍ شات ليږدوي سرعت يې څومره وي؟**

**ځواب په ساعت کي ۳۰کيلومتره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**272پوښتنه: دیؤې کیلو شاتو دجوړیدو لپاره مچې باید څومره لار طی کړي؟**

**ځواب: دیؤې کیلو شاتو دراغونډولو لپاره مچیانې باید ۴۰۰زره کیلومتره الوتنه وکړي.**

**273پوښتنه: دشاتو دمچیو ملکه په پسرلي څومره هګۍ اچوي؟**

**ځواب د ۲۰۰۰هګیو څخه در ۳۰۰۰هګیو پوري**

**274پوښتنه: آیادشاتو مچۍ ټولې هګۍ یؤځای ږدي؟**

**ځواب: نه دملکي مچیو هګۍ یؤځای او دنر او ښځو مچیو هګۍ بل ځای ږدي.**

**275پوښتنه: آیا دمچیو ملکه دخپلو هګیو په جنسیت پوهیږي ؟**

**ځواب: هو ملکه پوهیږي چي کومې هګۍ څخه ملکه او دکومي څخه نوري مچي پیداکیږي.**

**276پوښتنه: مچي کوم کوم کارونه سرته رسوي؟**

**ځواب: کوچنۍ مچۍ دملکې خدمت کوي؛ځیني مچمچۍ د چیچیانو روزنه پر غاړه لري، ځیني مچۍ کندو ته اوبه راوړي،ځیني مچۍ دکندو دیخولو او ګرمولو دنده لري، ځیني دکندو دپاکولو دنده لري، ساتونکي مچۍ سته چي دکندو دفاع کوي، ځیني مچۍ ګلونه موندي،ځیني مچي بیا دمومو څخه شیږ ضلعي جوړښتونه جوړوي،او نوري مچۍ سته چي عسل را غونډوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**277پوښتنه: کومې مچۍ کندو ته ننوتلی سي؟**

**ځواب: هغه مچمچۍ کندو ته پرېښودل کیږي چي دکندو شیپر يې زده وي که يې شیپر نه وي زده دمرګ لامل يې کیږي.**

**278پوښتنه: مچۍ درځومره ځایه پوري په شاتو پسي ځي؟**

**ځواب: درلسو کیلومترو پوري**

**279پوښتنه: آیا دمچیو ناروغۍ انسان ته دشاتو دخوړلو دلارې لیږدول کیږي؟**

**ځواب: یا هیڅ دمچیو ناروغي دمچیو دشاتو دلارې انسان ته نه انتقالیږي**

**280پوښتنه: شات پر څوډوله دي؟**

**ځواب: پردوه ډوله: درملیزشات او غذايي شات.**

**281پوښتنه: په قرآنکریم کي ولې دشاتو مچیوته په مونث؛ښځینه نوم سره یادې سوې دي؟ ځواب: ځکه دشاتو راغونډونکي ټولې ښځینه دي نارینه مچۍ شات نه راټولوي.**

**282پوښتنه: شات دکومو نارغیو لپاره ګټور دي؟**

**ځواب: دزړه،اینې،تنفسي،حساسیتي،رګونو،هضمي ناروغیو کي ګټور دي.**

**283پوښتنه: آیا شات پرزخم ایښولی سو؟**

**ځواب: هو په ځیني زخمونه شات دري برابره ژر جوړوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**284پوښتنه: شات څو درملریزي مادې لري؟**

**ځواب: پوهان وايې شات ۷۰درملیزي مادې لري.**

**285پوښتنه: دوریښمو چنجی په هره دقیقه کي څو تاره وریښم اوبدي؟**

**ځواب: دوریښمو چنجی په هره دقیقه کي شپږ تاره وریښم اوبدي چي دهر تار اوږدوالی یې ۳۰۰متره وي.**

**286پوښتنه: آیا دوریښمو تار کلک دئ؟**

**ځواب: هو دوریښمو تارونه دفولاد څخه کلک دي که دفولادو قطر دوریښمو دتار په اندازه کړو.**

**287پوښتنه: که دوینې د سر کرویاتو حجرې دځنځیر په ډول سره وتړو څومره به سي؟**

**ځواب: دهغوئ اوږدوالی به دومره وي چي دمځکي دمیط څخه شپږ ځلي را تاویدلی سي.**

**288پوښتنه: دوینې په هر ملي متر کي څو سره کرویات شتون لري؟**

**ځواب: دوینې په هر ملي متر کي ۵میلیونه سره کرویات شتون لري.**

**289پوښتنه: دانسان زړه په نارمل ډول په څلوریشت ساعته کي څوځله غورځي؟**

**ځواب: دانسان زړه په نارمل ډول دورځې ۱۰۳۶۸۰ځله غورځي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**291پوښتنه: دانسان زړه په ورځ کي څومره وينه پمپ کوي؟**

**ځواب: دانسان زړه په ورځ کي ۱۲۰۰ ګیلنه وینه پمپ کوي.**

**292پوښتنه: دانسان په بدن کي په هره دقيقه کي څو حجرې مري؟**

**ځواب: دانسان په بدن کي په هره دقيقه کي ۱۲۵ میلیونه حجرې مري**

**293پوښتنه: دانسان دبدن دخونکوالي، سړولو دنده دڅشي پر غاړه ده؟**

**ځواب: دانسان دبدن دخونکوالي، سړولو دنده دخولو توليدونکو ميليونونو غدو پر غاړه ده.**

**294پوښتنه: يخنی په وخت کي بدن ديخنی پروړاندي کوم غبرګون ښيې؟**

**ځواب: کله چي دانسان بدن يخ سي بدن په خپل لړزې،ریږد سره عضلې په خوځښت راولې او عضلې دیاد خوځښت له کبله تودوخه توليدوي،ددې سره په خواکي دانسان وريښتان شخ شخ دريږي ترڅو ګرمه هوا ذخیره او دسړې هو د ننوتو مخه ونيسي،دانسان بدن دخولې او لړزيدو په مرسته ديخنی او تودوخې پروړاندي مبارزه کوي.**

**295پوښتنه: کومه ماده نه پريږدي د درد خبر مرکزي عصبي سيستم ته ننوځي؟**

**ځواب: انکفالين ياد ماده په شوکي نخاع کي ځای لري .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**296پوښتنه: په ورځ کې کوم او په شپه کې کوم بدلونونه دانسان په بدن کې پيښيږي؟**

**ځواب: په ورځ کې دانسان دبدن لګښت مصرف دانرژي دجوړيدا په پار ډيريږي، دبدن دتودوخي درجه يې دخپلې منځنۍ اندازې څخه نيمه درجه لوړيږي او په شپه کې همدغه ډول نيمه درجه کښته کيږي.**

**297پوښتنه: هغه څشي دئ چي دانرژۍ تنظيموونکي او توليدوونکي ژونکي په دې پوهوي چي ورځ يا شپه ده؟**

**ځواب: دغه حجرات دنخاميه غدې په خوا کي ځای لري دسترګو پر شبکيې د رڼا دلګيدو يا نه لګيدو څخه په دې پوهيږي چي ورځ يا شپه ده**

**پوهان دلانورو پوهيدا په پار وايي کله چي پر سترګو رڼا وځليږي عصبي مايعات دعصبي نرمو مزو لمنځه دهيپو فيز يا دغدو دملکې خواته ځي،دهيپوفيز غده دبدن دجوړښتونو ترمنځ دکارو نو برابر والی،سمون پر غاړه لري همدارنګه دبدن دعمومي پياوړتيا،توان مسؤليت دتيروئيډ غدې پر غاړه دئ په ياده غده کي اومه مواد په انرژۍ بدليږي،ياده غده په ورځ کي خواړه په لوړتوان انرژي او په شپه کي په کښته توان انرژۍ بدلوي.**

**دتيروئيډ او نخاميه غده دوخت دتيريدو دراغيزې لاندي دي او دوخت دمحاسبه کوونکي ساعت لرونکي دي چي دشپې او ورځې په راتګ سره خپلې کړنې ترتيبوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |

**دزړه غورځیدا په ورځ کي دشپې په پرتله د۱۰ څخه در۲۰ ځله ډېرېږي،همدارنګه تشي بولې په ورځ کي دشپې په پرتله دري یا څلور ځله ډېرېږي؛همدارنګه پوهانو دالکټرو کارډیو ګراف ماشین په مرسته دامالومه کړي چي دمغزو کار په ورځ کي ډېر او دوشپې دخوا کمښت پکښي راغلی دئ.،**

**298پوښتنه دانسان دبدن نارمله تودوخه څودرجې ده؟**

**ځواب: د۳۶،۵او ۳۷،۵سانتي ګریډدرجو ترمنځ ده درلودونکی دئ**

**299پوښتنه: کله چي دانسان دبدن تودوخه دخپلې منځنۍ اندازې څخه پورته یاکښته لور ته ولاړه سي څه پیښیږي ؟**

**ځواب: کله چي دپوره لندبل په شتون کي دتودوخې لوړه درجه ۴۵ ورسیږي یا دلندبل په نه شتون کي؛په وچه هوا کي دتودوخې لوړه درجه ۶۰سانتي ګریډ درجو ته ورسیږي انسان دپښو څخه غورځوي.**

**300پوښتنه: دانسان په بدن کي څومره دخولوتولیدونکي غدې شتون لري**

**ځواب: دانسان په بدن کي د۳څخه در ۴میلیونو دخولې تولیدونکي غدې شتون لري چي پرپوستکي دشمیر په بدلون خپرې سوي دي؛دبیلګې په ډول دلاس په ورغوي کي په هرسانتي مترمربع ساحه کي دخولو ۴۸۰ تولیدونکي غدي ځای پرځای سوي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**301پوښتنه: که دخولو تولیدونکي غدې یؤدبل سره وتړل سي دهغوئ اوږدوالی به څومره سي؟**

**ځواب: پنځو کیلومتروته به ورسیږي.**

**302پوښتنه :دابوځښنلو یؤه ګټه راته وووایه؟**

**ځواب :که هره ورځ۱۲ ګیلاسه اوبه وځښئ، د پوستکي هیڅ ډول ناروغي به ونلرئ.**

**303پوښتنه: دشیدوځښنلویؤه ګټه راتهووایه**

**ځواب :که هره ورځ یوه پیاله شیدې وځښئ، نو د هډوکو هیڅ ډول ستونزه به ونه لرئ**

**304پوښتنه: چي په ټوله مځکه کي هر ثانیه کي څومره بریښناوي اوتندرونه را منځتنه کیږي؟**

**ځواب: په ټوله مځکه کي هر ثانیه ۱۰۰بریښناوي اوتندرونه را منځتنه کیږي چي ورځنی شمېر یې نیژدي ۸میلیونو ته رسیږي.**

**305پوښتنه :تاسو په ژوند کي څوځله امکان لري چي ټکه درباندي را ولویږي؟**

**ځواب: شپږ۶لکه واري.**

**306پوښتنه دونې درټولو لوی فسیل چیري پیداسوی دي؟**

**ځواب: په تایلنډ هیواد کي چي اوږدوالی یې ۲۷متره کیږي .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**307پوښتنه دنړۍ ترټول پخوانۍ ونه څومره عمر لري؟**

**ځواب: ۴۸۰۰ یا ۵۰۰۰ کاله او د امریکا په کالفورنیا کي ده.**

**308پوښتنه: دانسان په ځولې کي کومې مادې شتون لري؟**

**ځواب: په هرو سلو ګرامو ځولو کي چي دژونکو ،حجراتو په مرسته تولیدیږي ۹۹ګرامه اوبه یو ۱ګرام مالګه اونور کیمیاوي مواد شتون لري.**

**309پوښتنه: دانسان بدن په هرو ۲۴ساعتونو کي څومره ځوله تولیدوي؟**

**ځواب: یو انسان په ۲۴ساعتونو کي ۱۰۰۰ګرامه ځوله تولیدوي،دځولو تولید په پرلپسي ډول سره دئ ځکه خو انسان هغه په پوره ډول نه حس کوي،ځوله دانسان بدن نمجن ساتي کله چي ځوله نه وي دبدن پوستکی وچیږي.**

**310پوښتنه :دانسان دبدن لوی غړی کوم یو دئ؟ ځواب: اینه**

**311پوښتنه: انسان بیله اینې څومره ژوندی پاتیدلی سي؟**

**ځواب: د دریو ساعتو څخه ډېر ژوندی نه سي پاتیدای.**

**312پوښتنه: آیا اینه خپل لمنځه تللې برخې بیا جوړولی سي؟**

**ځواب :هو.**

**313پوښتنه: اینه تخمین څومره دندې سرته رسوي؟**

**ځواب: دپنځو زرو څخه ډېري دندې سرته رسوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**314پوښتنه: په اینه کي څومره وینه ذخیره وي؟**

**ځواب: ۱۵۰۰ سانتي متر مکعب وینه.**

**315پوښتنه: آیا اینه قندونه په غوړو او غوړي په قندونو بدلوې؟**

**ځواب: هو اینه کولی سي یؤ ډول مواد په بل ډول موادو بدل کړي.**

**316پوښتنه: اینه نوري کومې دندې سرته رسوي؟**

**ځواب: دمایعاتو دنسبت اندازه ګیري، شکل ورکول یانې جامد په مایع او مایع په جامد اړول، دزهرې مادې لمنځه وړل، دصفرا جوړول...**

**317پوښتنه: آیا داګټور چار دئ چي موږ د ډېرې دندې په حالت کي په یؤه وار ډیرې اوبه وڅښوو؟**

**ځواب: یا دا کار زیانمن او خطر ناکه دئ.**

**318پوښتنه :دتنفسي سیستم دزړه دضربانو دتنظیم اونورو سیستمونو دتنظیم مرکزچیري دئ؟**

**ځواب: دشوکي نخاع په سریا بصل النخاع کي چي دمغز پای دئ یؤ پیچلي تارونو ته ورته جوړښت ځای لري، دتنفس دتنظیم مرکز، دزړه دضربانو دتنظیم او همدغه رکم درګونو مرکزونه چي ددې تنګ او نري ځای څخه تیریږي؛ ځای لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**319پوښتنه: دتنفس شمیر کله ډیر او لږیږي؟**

**ځواب :پوهان په دي باوردي چي که دانسان په بدن کي دکاربن ګاز دمعمول څخه دوه په لسو کي ډېر سې د انسان دتنفس شمیر ډېریږي، او که په همدي اندزې لږ سي تنفس دریږي.**

**320پوښتنه: هوايي کڅوړې څومره قطرلري؟**

**ځواب: هوايي کڅوړې چي دهوا څخه ډکې دي دمایکرومتر څلورمه بره قطر لري.**

**321پوښتنه: ترخیا،دساه نلۍ څومره قطر لري ؟**

**ځواب: ترخیا قطر پنځه سانتي متره دئ داسي لکه دیؤ کوچني فلزي پیپ یا دهغه څخه لږ غټ.**

**322پوښتنه: دهوايي کڅوړې څومره مساحت لري؟**

**ځواب دهوايي کڅوړو ټوله مساحت ۷۰متره مربع کیږي.**

**323پوښتنه: په سږو کي څومره هوئي کڅوړي شتون لري؟**

**ځواب: دري۳میلیونه هوايي کڅوړې شتون لري.**

**324پوښتنه: سیلیاوي یا وریښتو ته ورته جوړښتونه په څومره اندازه جوړې دي؟**

**ځواب: سیلیاوي یا وریښتو ته ورته جوړښتونه شتون لري چي هریؤ یې ۶مایکرو متره اوږد او دوه مایکرو متره قطر لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |

**325پوښتنه :تېوخ په څومره تيزوالي دساه په نلۍ کي حرکت کوي؟**

**ځواب: دتېوخ ګړنديتوب په ساعت کي ۹سوه کيلومتره دئ.**

**326پوښتنه: د نرڅخه په يؤه وار انزال څو سپرمه وځي؟**

**ځواب د نرڅخه په يؤه وار انزال دمنيو سره ۴۰۰ميليونه سپرمه وځي**

**327پوښتنه: آيا سپرمونه حرکت کوي؟**

**ځواب: هو سپرم خوځنده ماده ده.**

**328پوښتنه: دانسان په مغز کي څو عصبي حجرې شتون لري؟**

**ځواب: دانسان په مغزو کي ۱۴۰ميليونه عصبي حجرې شتون لري.**

**329پوښتنه: دسترګې شبکيه څو درڼا اخذي؛رڼا نيوونکي لري؟**

**ځواب: دانسان دسترګې شبکيه ۱۴۰ميليونه رڼا نيوونکي اخذې لري**

**330پوښتنه: دسترګې شبکيه په لږ رڼا کي څو درڼا نيونکي اخذې لري؟**

**ځواب: دسترګې شبکيه په لږ رڼا کي سل ميليونه استونيي شکله دلږ رڼا نيوونکي اخذې لري.**

**331پوښتنه: دغږ دلوري مالومونکی چيري دئ؟**

**ځواب: په مغزو کي، داسي کارکوي که يؤه ثانيه پر ۱۶۰۰برخو وويشو په يؤه برخه وخت کي يې انسان ته دږغ لوری په ګوته کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**332پوښتنه :موږ چي خبرې کو دخبر په جوړولو کي څو عضلې ګډ کارکوي؟**

**ځواب :اولس۱۷عضلې**

**333پوښتنه: زموږ دخولې دننه څو حجرې شتون لري؟**

**ځواب موږ دخولې دننه ۵۰۰میلیونه حجرې شتون لري**

**334پوښتنه: دخولې په دېوالونو کي په هر پنځو دقیقو کي څو حجرې مري؟**

**ځواب: دخولې په دېوالونو کي په هر پنځو دقیقو کي ۵۰۰میلیونه حجرې مري او ځای یې نوي حجرې نېسي**

**335پوښتنه: دانسان مغز دڅو عصبي حجرو لرونکی دئ؟**

**ځواب: دانسان په مغزو کي۱۴۰میلیارده بنسټیزې حجري او۱۴میلیارده باندنۍ حجرې شتون لري.**

**336پوښتنه: دانسان حافظه څومره ظرفیت لري؟**

**ځواب دځینوڅېړنوپربنسټ دانسان حافظه تخمین ۱میلیارد جي بي ده چي د دري میلیونه ساعته ویډیو ځایولو وړتیا لري چي کتل یې ۳۰۰کاله وخت نیسي.**

**337پوښتنه: دانسان په سږو کي څو هوايي کڅوړي شتون لري؟**

**ځواب: دانسان په سږو کي ۷۰۰میلیونه هوايي کڅوړي شتون لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| **ننګونکي پوښتنې** | **او ځوابونه** |

**338پوښتنه: دانسان سږي په ورځ کي څو ځله خلاص او را غونجيږي؟**

**ځواب: دانسان سږي په ورځ کي ۲۱۶۰۰ځله خلاص او راغونجيږي.**

**339پوښتنه: دانسان سږي په ورځ کي څومره هوا تنفس کوي؟**

**ځواب: دانسان سږي په ورځ کي ۱۲۰مترہ مکعبه هوا تنفس کوي.**

**340پوښتنه: په اينه کي څومره حجرې شتون لري؟ ځواب په اينه کي ۳۰۰ميلياردہ حجري شتون لري.**

**341پوښتنه: او په څومره وخت کي يادې ټولې حجرې نوي کيږي؟**

**ځواب: په دري مياشتو کي داينې ټولې حجرې نوي کيږي.**

**342پوښتنه: په کلموکي په هرڅانتي مترمربع ساحه کي څومره ګوتې ته ورته جوړښتونه شتون لرې؟**

**ځواب:په کلموکي هرڅانتي مترمربع ساحه کي۳۶۰۰ګوتې ته ورته جوړښتونه شتون لرې.**

**343پوښتنه: دا دخوړو تجزيه کوونکي جوړښتونه په څومره وخت کي نوي کيږي؟ ځواب: دا دخوړو تجزيه کوونکي جوړښتونه په هر۴۸ساعتونوکي نوي کيږي**

**344پوښتنه: دانسان په پښتورګوکي څومره دوينې پاکوونکي، ګلوميرولرونه.**

**شتون لري؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: دانسان په پښتورګو،بډوډو کي دوه میلیونه دوینې پاکوونکي جوړښتونه ګلومیرولرونه شتون لري.

345پوښتنه: دیاد پاکوونکو اوږدوالی څومره دئ؟

ځواب: سل کیلومتره.

346پوښتنه: دانسان بدن څو ساتونکي دېوالونه لري؟

ځواب: دري: لومړی پوستکی،دویم دهرغړي لپاره ساتونکی دېوال لکه دسترګو لپاره اوښکي، دریم دفاعي دېوال یې دوینې سپین کرویات دي.

347پوښتنه: دبدن دروغتیا په وخت کي دسپینو کروياتو ډبلیوبي سي شمېر څومره وي؟

ځواب: درغتیا په ورځو کي د ډبلیوبي سي شمېر ۲۵میلیونه وي.

348پوښتنه: دناروغۍ په ورځو کي دسپینو کروياتو ډبلیو بي سي شمېر څومره وي؟

ځواب: شمېر دناروغۍ په ورځو کي دسپینو کروياتو دډبلیوبي سي سلګونو میلیونو ته رسیږي.

349پوښتنه: دسپینو کروياتو ډبلیوبي سي قطر څومره دئ؟

ځواب: تخمین ۱۵مایکرو متره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**350پوښتنه: په دویم نړیواله جګړه کي دنارینو شمېر نسبت ښځوته ته څومره کم وو ؟**

**ځواب: دهرو ۱۰۰ ښځو پر واړندې ۷۵نارینوو شتون درلودئ.**

**351پوښتنه دنارینو اوښځودشمېر ترمنځ نسبت څومره دئ.**

**ځواب: ۱۰۵نارینو پرووړاندي ۹۵ښځې شتون لري.**

**352پوښتنه: دښځو تنه په نړی کي دنارینو په نست څومره کوچنی ده؟**

**ځواب: دښځو تنه په ټوله نړی کي په اوسط ډول دنارینو په نست ۱۰ سانتي متره کوچنی ده.**

**353پوښتنه: آیا دښځینو او نارینو دهډکو په وزن کي توپیر سته؟**

**ځواب:هو دښځو دهډکو وزن دنارینو دوزن څخه لږ دئ.**

**354پوښتنه: آیا دښځینو او نارینو دعضلو ترمنځ توپیر سته؟**

**ځواب: هو دښځو عضلې دنارینوو دعضلو څخه ۱پر۳برابره کم توانه دي.**

**355پوښتنه:ماشومان څه وخت ښه وده کو؟**

**ځواب:په پسرلي کي ښه او ژر وده کوي .**

**356پوښتنه:دانسان دترټولوکلکې عضلې نوم واخلئ؟**

**ځواب:ژبه د انسان په بدن کي تر ټولو کلکه عضله ده .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**357پوښتنه:د خولې څخه معدې ته د غذا رسيدل څومره وخت نيسي؟ ځواب:د خولې څخه معدې ته د غذا رسيدل ۷ ثانيې وخت نيسي**

**358پوښتنه:دهغې هوا سرعت چې د پرنجي په وخت کې له پزې خارجيږي څومره دئ؟**

**ځواب:دهغې هوا سرعت چې د پرنجي په وخت کې له پوزې خارجيږي، سل ميله يا ۱۷۰کيلومتره په يوه ساعت کي دئ.**

**359پوښتنه:دانسان دبدن ترټولوکوچنی هډوکی چيري دئ؟**

**ځواب:دانسان دبدن تر ټولو کوچنی هډوکی په غوږ کي شتون لري تقريباً ۰،۱۱ انچه دئ.**

**360پوښتنه:دانسان يۆه ورځه څومره وريښتان لري؟**

**ځواب:د انسان هره ورځه کي تقريباً ۵۰۰ وريښتان شتون لري.**

**361پوښتنه:د نارينو په ورځ کې څو وريښتان تويږي؟**

**ځواب:د سړيو په ورځ کي ۴۰ و يښتان تويږي او دښځو ۷۰وريښتان.**

**362پوښتنه:هډوکي څو ځلې تر سمينټو کلک دي؟**

**ځواب:هډوکي څلور ځلې تر سمينټو کلک دي.**

**363د انسان بدن قد په سهار اوشپه کي توپيرکوي؟**

**پوښتنه:هو د انسان بدن په سهار کي لوړ او په شپه کي لږ ټيټ ښکاري؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**364پوښتنه: دانسان کوپړۍ دڅو هډکو څخه جوړه سوې؟**

**ځواب:دانسان کوپړۍ د ۲۷ مختلفو هډوکو څخه جوړه سوې ده**

**365پوښتنه:دانسان هډوکي څومره وي؟**

**ځواب:کله چي ماشوم نوی پیدا سي نو ۳۰۰ هډوکي لري، خو کله چي لوی سي ۲۰۶ هډوکي کېږي، ځکه چي ځینې هډوکي سره یوځای سي او د څو هډوکو څخه یو هډوکي جوړ سي.**

**366پوښتنه:آیا دبادامو خوړل ګټه لري؟**

**ځواب:هره ورځ د پنځو بادامو خوړل تاسو د سرطان له ناروغۍ څخه ساتي.**

**367پوښتنه:دلیمبوخوړلو یؤه ګټه راته ووایه؟**

**ځواب:هره ورځ د یو لیمبو خوړل، ستاسو بدن، چاغ کیدلو ته نه پرېږدي.**

**368پوښتنه: آیا دنارینوو اوښځو د مغز دوزن ترمنځ توپیر سته؟**

**ځواب هو دنارینوو د دماغ وزن په منځني ډول دښځو د مغز دوزن څخه ۱۰۰ګرامه ډېر دئ.**

**369پوښتنه: دښځې او نارینه مغز بل څه توپیر سره لري؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب: دښځې مغز کمې لايي،پوړونه او همدارنګه دتشخيص،بيلوالي داړخه لږ مساحت لري مګر داحساس،هيرنتيا،هيجان،دمرکز کاريې دنارينه دمرکز دکار څخه ډېر او سخت دئ.**

**370پوښتنه: دنارينه او ښځې ترمنځ بل څه بدنې توپير شتون لري؟**

**ځواب: دښځو سږي دنارينۀ دسږو څخه لږ پراخوالى لري مګر دښځو تنفس دنارينۀ دتنفس څخه تېز،ګړندى دئ،دښځو د زړه حجم دنارينوو دزړه دجوړښت څخه کوچنى دئ همدارنګه دښځې دنبض يا دزړه دغورځيدا اندازه دنارينه دزړه دغورځيدا داندازې څخه ډېره ده.**

**371پوښتنه: آيا حشرات سږي لري؟**

**ځواب: يا. الله ﷻ دسږو پرځاى حشرتو ته دتنفس کولو لپاره ځانګړي لولې،پيپونه ورکړي ځکه که چيري دهغوئ ساه کښل دسږو دلارې واى حشرات دخپل اوسني حجم څخه ډېر غټيدل او انسانانو ته دزيان رسولو او مرګ لامل به کيداى.**

**پوښتنه: دانسان دبدن يۀه حجره څومره وزن لري؟**

**ځواب: که د تلې په يۀه پله کي زرميليونه حجرې کښيږدو وزن به يې يۀګرام سي:**

**372پوښتنه: دراوسه څو جينونه پيژندل سوي دي؟**

**ځواب:ننئ پرمختګونو او پوهې ۸۰۰يا دهغه څخه زيات جينونه پيژندلي دي جينونه ارثي صفتونو دجينو په مرسته په نښه کيږي،جينونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکروموزم برخه ده چې دکروموزم دپاسه ځای لري کروموزومونه د ډي این ای او پروټین څخه جوړېږي.

373پوښتنه: حجره کومې دندې سرته رسوي؟

ځواب: پروټینونه په حجره کې جوړېږي او په حجره کې زیرمتونونه شتون لري چې ځیني مواد هلته زیرمه کېږي، همدارنګه په حجره کې پاک کوونکي جوړښتونه، رسوونکي غاړې یا پیپونه، او انرژي تولیدونکي جوړښتونه شتون لري.

374پوښتنه: دانسان دپوستکي دحجرو عمر څومره دئ؟

ځواب: دپوستکي حجرې در یؤه ساعت ډېر ژوند نه لري کله چې لمبیږئ داسي احساس به وکړئ لکه کوم څه چې مو دبدنه شوه یا لیري کیږي چې همدا ستاسو دپوستکي مړي حجرې دي چې دبدنه مو لیري کیږي.

375پوښتنه: د ذائیقې دحجرو عمر څومره دئ؟

ځواب: اووه یا دهغه څخه کمې ورځې.

376پوښتنه: دوینې دسپینو کروياتو دحجرو عمر څومره دئ؟

ځواب دوینې دسپینو ذراتو ځیني حجرې ۲۵ورځې ځیني یې څو ساعته او ځیني یې څو میاشتې ژوندئ پاتي کیږي.

377پوښتنه: دانسان په بدن کې څومره حجرې شتون لري؟

ځواب:دانسان په بدن کې دسل ټریلیونه یانې در زرګونو میلیونو ډېرې حجرې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**378پوښتنه: دسپرم او ووم یا دهغوئ زیګوټ ترکیبي حجره څنګه جوړښت لري؟**

**ځواب: یاده حجره دهستې خاونده ده چې دهغې په اړه ویل کیږي چې یاده هسته د اداري او مدیریت ځښتنه ده او پرهمدې هستې ۲۳جوړې کروموزومونه شتون لري چې خپله دژوند ماده ده او د وجود رازونه،اسرار په هغې کې پټ سوي خوندي سوي دي.**

**379پوښتنه: په جینونو کې څومره مالومات خوندي سوي دي؟**

**ځواب:په جینونو کې زرمیلیونه مالومات شتون لري که موږ یاد مالومات پرپاڼو ولیکو یو لوی دایرة المعارف به ترینه جوړ سي چې یومیلیون پاڼې به ولري او په هره پاڼه کې به یې پنځه زره مالومات یا د پام وړتکي شتون ولري.**

**380پوښتنه: دانسان په بدن کې لومړی عصبي احساسونکي اخذې دڅشي دي؟**

**ځواب: په پوستکي کې لومړنی اخذې د درد او ورستۍ هغه یې دفشار دي چې دهغوئ په منځ کې دیخ،ګرمی،لمس او نوري اخذې شتون لري.**

**381پوښتنه: انسان څومره داحساس عصبي اخذې لري؟**

**ځواب: ځیني پوهان واي انسان د درو څخه درپنځو میلیونو د احساس عصب لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**382پوښتنه: دانسا په بدن کي څومره ديخ او ګرمۍ او فشار عصبي اخذې شتون لري؟**

**ځواب: تخمين شل زره دګرمۍ او يخنۍ داحساس عصب او پنځه لکه دفشار دحس کولو عصب لري.**

**383پوښتنه: دانسان دبدن دتعادل، توازن ساتلو حس کي کوم غړي برخه لري؟**

**ځواب: په ياده دنده کي ۵۰ مفصلون،بندونه، ۲۰۰ هډوکي،دوه سوه نسجونه،برخه لري.**

**384پوښتنه :مثانه څومره بولې نېسي؟**

**ځواب:در ۸۰۰ملي ليټرو پوري**

**385پوښتنه: که مثانه ډکه سي بولې چيري ځي؟**

**ځواب: حلبين ډکيږي پښتورګو ته ځان رسوي، هغه وخت انسان بولې نه سي تېنګولی.**

**386پوښتنه: که بولې په وينه ګډې سي څه پيښيږي؟**

**ځواب:دانسان دمړينې لامل کيږي.**

**387پوښتنه: بولې په څومره اندازه دپښتورګوڅخه څڅيږي؟**

**ځواب: په هرو شلو ثانيو کي دوه څاڅکي بولې دپښتورګو څخه دحلبونو دلارې مثانې ته څڅيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**388پوښتنه: دپوستکی په مخ کي چوپرکي حجرات یانې چوپرک ته ورته حجرات،ژونکو شمېرڅومره دئ؟**

**ځواب: دپوستکی په مخ کي چوپرکي حجرات یانې چوپرک ته ورته حجرات،ژونکي میلانوسیټونه شتون لري، ددې حجراتو شمېر په هر انچ مربع ساحه کي شپیتو زرو ته رسیږي.**

**389پوښتنه: آیادانسان دعمر په ډېریدو دهغه پوستکی روښانه او سپین کیږي؟**

**ځواب:هودانسان دعمر په ډېریدو دهغه پوستکی روښانه او سپین کیږي.**

**390پوښتنه: دیؤه انسان پرسر څومره وریښتان شتون لري؟**

**ځواب: دهر انسان پر سره دسل څخه در دوه سوه پنځوس زرو وریښتانو پوري شتون لري.**

**391پوښتنه: یؤ وریښته څومره ژوند کوي؟**

**ځواب: هر وریښته د درو کلونو څخه ډېر ژوند کوي.**

**392پوښتنه: څومره وخت ته اړتیا ده چي وریښتان نوي سي؟**

**ځواب: دوو سوو ورځو ته.**

**393پوښتنه: آیا ریښتیا دهر وریښته سره دوریښته جوړولو فابریکه شتون لري؟**

**ځواب: هو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**394پوښتنه: يؤ وريښته کوم شيان لري؟**

**ځواب: هر وريښته يؤ شريان او وريد دځان دمغذي کيدنې او يؤه عضله دځپلې خوځيدنې لپاره لري، همدارنګه هر وريښته يؤ عصبي مزی لري چي تکان ورکوي ترڅو ودريږي او دغه رکم هروريښته يؤه دغوړو او يؤه د رنګ غده لري.**

**395پوښتنه: که دحنجرې اندازه داوسني حالت څخه لږ غټه يا کوچنۍ وای څه به پيښ سوي وای؟**

**ځواب: که داوسني حالت څخه لږ هم غټه يا پراخه وايي دانسان ږغ به نه را وتای يا به نه اوريدل کيدای او همدارنګه که داوسني حالت څخه لږ لږهم کوچنۍ واي ساه اخيستل به ستونزمن وای.**

**396پوښتنه: آيا دابه زموږ لپاره ښه وای چي موږ داوسني ليد څخه ډير ليدل،ډير اوريدل،ډير لمسول،ډير بويول کولی سوای؟**

**ځواب: يا دې چاري به زموږ ژوند راسخت کړی وای اندوکړئ موږ به په اوبو کي ژوندي موجودات ليدای، هرږغ به مو اوريدای.**

**397پوښتنه: دانسان دپښتورګو په اړه راته ووايه؟**

**ځواب: پښتورګي دحجاب عجز لاندي دپريتوان په شا کي دانسان په دوړو اړخونو کي ځای لري، شکل يې لوبيا ته ورته دئ چي ديؤه لوی انسان پښتورګي ۱۲سانتي متره اوږده،شپږ سانتي متر پرداره دونيم سانتي متر پنډ او وزن يې ۱۵۰ګرامه کيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**398پوښتنه: پښتورګي هرورځ څومره وینه پاکوي؟**

**ځواب: پښتورګي هرورځ ۱۸۰۰ لیټره وینه پاکوي .**

**399پوښتنه: په پښتورګو کي کوچنو لولیې پیپونو ته ورته جوړښتونه نفرونونه څومره اوږده اوشمېر یې څومره دئ؟**

**ځواب: په پښتورګو کي کوچنو لولیې پیپونو ته ورته جوړښتونه نفرونونه شتون لري چي اوږدوالی یې ۶۰کیلومتره او شمېریې یوه میلیونه رسیږي.**

**400پوښتنه: دانسان ټوله وینه په هرو څلورویشتو ساعتونوکي څوځله پاکیږي؟**

**ځواب: دانسان ټوله وینه په هرو څلورویشتو ساعتونوکي شپږ دیرش ځله دپښتورګو څخه دپاکیدني په پار تیریږي، چي پښتورګي دوینې دتصفیي،پاکیدنې لپاره ډېر پیچلي عملیات سرته رسوي،داسي چي قندي مواد،ځیني نور عناصرونه او پروټینونه دوینې څخه اخلي او په منظمو نسبتونو سره یې دځان دباندي وریدونو ته هدایت کوي او داندازې څخه ډېر خواړه او نور اضافي او زهري مواد دبولو سر دبدنه دباندي باسي.**

**401پوښتنه: څومره اندازه مالګه دانسان دمړینې لامل کیږي؟**

**ځواب: که دانسان په بدن کي دمالګې داندازې نسبت د اتیازرو څخه لوړ سي، انسان مري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**402پوښتنه: په کي څو دروازې شتون لري؟**

**ځواب: په ستوني کي دوه دوروازې شتون لري يؤ حلقۍ ژبه چي خواړه ژبې ته ورته نه پريږدي پزې ته داخل سي او دويم اپي ګلوت يا کوچنۍ جوړښت چي دسږو دپيپ په دروازه کي ځاى پرځاى سوى چي خواړه نه پريږدي،دسږو پيپ ترخيا ته ننوزې، دستوني لاندي لورته دوه لارې شتون لري معدې ته دخوړو دتلو لار او سږو ته دهوا دننوتلو لار.**

**403پوښتنه: مغزو ته چي څومره وخت اکسيجن ونه رسيږي انسان مري؟**

**ځواب: که دمغزو اصلي حجرو ته پنځه دقيقي اکسيجن ونه رسيږي هغوئ مري.**

**404پوښتنه: پرمځکې څو کاله مخکي د ډيناسورانو دلمنځه وړونکي آسماني ډبرې ومښتلي؟**

**ځواب: ۶۵ميليونه کاله مخکي.**

**405پوښتنه: ګيدړې داوريدو حس څومره پياوړى دئ؟**

**ځواب:دومره چي دلاس دساعت دتيک ټک ږغ د۴۰متره ليري څخه اورې.**

**406پوښتنه: دمځکې پر مخ تخمين څومره ميږيان شتون لري.**

**ځواب: شل۲۰کواډريليونه ميږيان شتون لري، دا يانې هر انسان ته دونيم ميليونه ميږيان رسيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**407پوښتنه: دانسان دبدن خولې توليدونکي غدي په يؤې تودې ورځې کي څومره خؤله توليدوي؟**

**ځواب:د ۲۰۰سانتي متره مکعبه څخه د ۱۵۰۰سانتي متره مکعبه پوري**

**408پوښتنه: دانسان دبدن پر يؤه سانتي متر مربع ساحه څومره دخؤلې توليدونکي غدې شتون لري؟**

**ځواب:پرتندي؛دلاس پر ورغوو ډېر شمېر خؤله توليدونکي غدې ځاى پر ځاى سوي دي،دبدن په نورو برخو کي په يوه سانتي مترمربع ځاى کي د ۳۰۰غدو په شاوخوا کي شتون لري،که موږ يادې غدې ديؤبل سره وتړو ديؤه انسان دخؤله توليدونکو غدو اوږدوالى به پنځه کيلومتره ته ورسيږي.**

**409پوښتنه: موږ څنګه دتندې احساس کوو؟**

**ځواب:زړه يؤ هورمون هضمي سيستم ته مخابره کوي، ترڅو انسان دتندې احساس وکړي.**

**410پوښتنه: د وريښتانو دسپينېدو لپريؤ دلوى لاملونو څخه څشي دئ؟**

**ځواب: دانسان بيره،ډار دننه بيره.**

**411پوښتنه: دپوستکي دويم پوښ دڅو برخو څخه جوړ سوى دئ؟**

**ځواب: دپوستکي دويمه برخه، ددوو برخو څخه جوړه ده پاپيلائي او رتيکولر،په پيلائي برخه کي دوينې رګونه او حس کوونکي حجرې شتون لري همدارنګه په رتيکولر برخه کي يې دوريښتان، دغوړيو غدې،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخولو غدې، دردې پوښ لاندې هیپو درم برخه شتون لري چې په هغې کي دوریښتانو پیازوونه او دچربۍ،غوړیو نسجونه په زیاته اندازه شتون لري.

412پوښتنه: دانسان په بدن کي څومره دوینې سره کرویات شتون لري؟

ځواب: دانسان دبدن په وینه کي ۲۵میلیونه،میلیونه سره ذرات شتون لري چې په شریانونو او وریدونو کي دوینې سره مله دي په داسي حال کي چې سره کرویات دوینې یؤه کوچنۍ برخه ده، دیادو کروياتو شمیر په هر ملي متر مکعب کي دپنځه میلیونو څخه کم نه دئ؛څومره ډېر او جالب.

413پوښتنه: هره ورځ سره کرویات څو ځله په بدن کي ګرځي؟

ځواب:هرورځ سره کرویات په بدن کي پنځلس سوه ځله ګرځي، ځي او راځي.

414پوښتنه: سره کرویات په خپل ۲۵ورځني ژوند کي څه کوي؟

ځواب: په دغه پنځویشت ورځنې ژوند کي دوئ ۱۱۵۰ کیلومتره لار طی کوي او ۶۰۰لیټره اکسجن دځان سره وړي او ځای پرځای کوي یې په داسي حال کي چې دهرې سرې ذرې قطر د اووه مایکرو مترو څخه ډیر نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**415پوښتنه: دوینې هره سره ذره څو هیموګلوبینه لري؟**

**ځواب :هره سره ذره د۲۵۰میلیونه مالیکوله پروټینونه لري چې داوسپنې لرونکي دي او هیموګلوبین ورته وایي.**

**416پوښتنه: یؤهیموګلوبین څو مالیکوله اکسیجن دځان سره لېږدوي؟**

**ځواب: یؤهیموګلوبین څلور مالیکوله اکسیجن دځان سره ولېږدوي چې په دې حساب دوینې هره سره ذره یؤبیلیون مالیکوله اکسیجن دځان سره لېږدوي.**

**417پوښتنه: یؤهیموګلوبین دڅشي څخه جوړسوی دئ؟**

**ځواب: هر هِموګلوبین د ۴پلي پپتید،دوه ۱۴۶آمینو اسید،دو ۱۴۱آمینواسیدچې ټوله ۵۷۴۰آمینو اسیده کیږي څخه جوړ سوی دئ.**

**418پوښتنه: په کوم وخت کي فشار ډېر لوړیږي؟**

**ځواب: دیؤې څیرنې دراپورلمخي د درد،خپګان او دګرمئ په موسم کي**

**419پوښتنه: حجامت بایدکوم وخت وسي؟**

**ځواب: دسپوږمۍزي میاشتې په۱۷/۱۹او یا ۲۱نیټه باندي؟**

**420پوښتنه: دلمانځه کولو دیؤې بلې روغتیایي ګټې په اړه راته ووایه؟**

**ځواب: په مغز کي د وینې ښه ګرځیدنه او روان دانسان د سلامتئ او روغتیا لپاره ډېر اړین دي، دلمونځ کوونکي دسجدې حالت په وینه کي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکت رامنځته کوي، چې په پایله کې یې شریانونه کشیږي، پراخیږي، دسر ډېرې ناروغۍ د مغزو دشریانونو دپېاویدو او چاودیدو لکبله وي، کوم وګړي چې دالله جل جلاله لپاره سجدې کوي که څه هم چې نه پوهیږي چې سجده کول یې دمغز شریانونه یې د شکیدلو،چاودیدلو او نابودیدلو څخه سالم ساتي.

421پوښتنه: دحجامت ښه وخت کوم وخت دئ

ځواب:د پسرلې او ګرمۍ پیل.

422پوښتنه: آیا ځیني میوې او ترکاري دپوستکو سره خوړل روغتیا ته زیان رسوي؟

ځواب:نه بلکې ګټه ورته لري.

423پوښتنه: دوینې په یؤ مایکرو لیټر کې څومره سپین کرویات اوپلاټیلیټونه شتون لري؟

ځواب: دوینې په یؤ مایکرو لیټر کې ۷زره سپین کرویات او دري لکه پلاټیلیټونه شتون لري.

424پوښتنه: پربدن سپیني لکې دڅه ښوودونکي دي؟

ځواب:هرکله چې انسان پر خپل بدن سپیني لکې ووینې باید وپوهیږي چې هلته د سپینو ذراتو یا دبدن د دفاعي پوځیانو او بېګانه میکروبونو ترمنځ سخت جنګ روان دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**425پوښتنه په ۲۰۰۴میلادي کال کي په ټوله نړۍ کي په یاده ناروغۍ څومره کسان اخته وه؟**

**ځواب:ځلویښت میلیونه وګړي .**

**426پوښتنه:ایا دایډز ویروس خپل ځان بدلوي؟**

**ځواب: هو یاد ویروس کولی سي هر وخت خپل ښکاره قیافې، شکل،کوډونو اوځانګړونو ته بدلون ورکړي.**

**427پوښتنه: په یؤشپه کي انسان څوځله پر اړخ اوړي؟**

**ځواب: په یؤشپه کي دخوب په حال کي انسان تقریبًا۳۵ ځله پر اړخ اوړي.**

**428پوښتنه: هرورځ دسګریټ تولیدونکي بافریکي څومره سګریټ جوړوي؟**

**ځواب: د نړۍ دهر انسان پر سر دوه سګریټه.**

**429پوښتنه: سګریټ څکوونکي دسګریټ نه څکوونکو په نسبت څو برابره دسرطان دخطر سره مخ دي؟**

**ځواب: شل۲۰برابره.**

**430پوښتنه: که چیري سل نفره شراب وڅښي په شرابو دمعتاده کیدو سلنه یې ۱۵ده، که په همدې تعداد وګړي سګریټ وڅکوي نو دمعتادۍ سلنه به یې څومره وي۸۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

431پوښتنه: دراوسه دانسان په ګوتو کي څو بیلونکي نښې پیژندل سوي دي؟

ځواب: پوهان په دې بریالي سوي چي دګوتې په سر کي سل بیلوونکي نښې او علامې وپیژني.

432پوښتنه: دګوتو د دوو نښو ترمنځ څو توپیرونو باید شتون ولري؟

ځواب: که چیري ۱۲ نښې یا علامي ددو ګوتو دنښو څخه سره ورته وي دا څرګندوي چي دګوتو یادې دوې نښې په یوه وګړي پوري اړه لري یاني داچي دوړي نښې دیوه وګړي دي.

433پوښتنه: دڅومره انسان ترمنځ ددوکسانو دګوتې نښې سره ورته والی لري؟

ځواب: کله چي موږ د۶میلیاردو انسانانو دګوتو نښې دیوبل سره وګورو یانې په شپږو میلیاردو انسانانو کي کیدای سي ددوو انسانانو دګوتو نښې یوډول وي.

434پوښتنه: دګوتو نښي څه وخت جوړیږي؟

ځواب: کله چي ماشوم دمور په رحم کي دشپږو میاشتو سي دهغه دګوتو دسرونو یادې نښې رامنځته کیږي یا جوړیږي او دهغه دمرګ در وخته بیله کوم بدلونه پر خپل لومړني ډول پاتي کیږي.

435پوښتنه: آیا موږ دخپل ګوتې نښې ته بدلون ورکولی سو یا زموږ دګوتو نښه بدلون کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: یا که دیؤه چا دګوتو دسرونو پوستکی په بشپړ ډول لمنځه ولاړ سي او پرځای يې نوی پوست دهغه ځای ونیسي بیا به هم دهغه وګړي دګوتو په نښه کي کوم بدلون رانه سي او هم هغه لومړنی دګوتې نښه به يې وي؛همدارنګه که دیؤچا دګوتو دسرپوستکی دجراحۍ په مرسته لیري کړل سي او دهغه دبدن دکومې بلې برخې پوستکی پري پیوند سي دڅو میاشتو په تیریدو به دیاد کس دګوتو نښې خپل لومړني حالت یالومړني شکل ته راوګرځي او کوم بدلون به په کښې شتون ونه لري.

436پوښتنه: کله چي هوا سړه سي او دګرمولو کوم شی هم نه وي دانسان بدن په یاد وخت کي کومه کړنه سرته رسوي؟

ځواب:شریانونه او وریدونه تنګیږي په ځاتکړي ډول سربیرن رګونه،کله چي رګونه تنګ سي دوینې جریان هم په رګونو کي کمیږي ځنګه چي په رګونو کي دوینې جریان کم وي دتودوخي د ډېر پاشل کیدو خپریدو مخه نیول کیږي او بالا بود تودوخه چي دخوړو دسوځیدا څخه په لاس راغلي په بدن کي خوندي پاتیږي.

437پوښتنه:دانسان بدن دیخنۍ سره دمبارزې لپاره نور کوم کارونه سرته رسوي؟ ځواب دهیپوفیز،نخامیه غده دټیروئیډ غدې خوا ته ای سي ټي ایچ هورمون رسوي او دټیروئیډ غوده چي دنده يې دغذایي موادو په انرژۍ بدلول دي خپلې دندې ته لا ښه پاملرنه کوي؛ښه نو دنخامیه غده دټیروئیډ غدې ته پیغام استوي چي دانرژۍ جوړولو کارونه چټک کړي او په بدن کي ګرځنده،ځرخیدونکي تودوخه رامنځته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**کله چي دانسان بدن دیخنۍ سره مخ کیږي په بدن کي دهورمونونو شمېر ډېرېږي په ځانګړي ډول دنخامیه غدې څخه دترشح کیدونکو هرومونو شمېر او بدن ته پرلپسي امرونه کوي چي دتودوخې دانرژۍ اندازه ډېره کړي.**

**همدارنګه انسان دنورو لارو او وسیلو په مرسته دیخنۍ سره مبارزه کوي،دانسان پر پوستکي د ۲۵۰زره څخه ډېر وریښتان شتون لري،هر وریښته دورید،شریان،عصبي عضلي،دغوړیو دغدې او د رنګ دغدې لرونکی دئ هر کله چي انسان دیخنۍ سره مخ سي وریښتو ته خبر رسیږي او وریښتان شخ دریږي ترڅو دوریښتو دسورویو خوله ښه بنده سي،ګرمه هوا دبدن څخه دباندي ونه وځي او دننه بدن کي خوندي پاته سي.**

**438پوښتنه: پر راسته او چپه اړخ بیدیدل څنګه دي؟**

**ځواب: پرچپه اړخ بیدېدل دهضم ستونزه پیښوي هغه خواړه چي په دوه یا څلورساعته هضمیږي دهضم موده یې شپږو یا اتو ساعتونو ته اوږدیږي ځکه راسته سږی چي نسبت چپه سږي ته لوی دی پرزړه زور راولي او همدارنګه اینه چي لوی غړی دئ ځانته ځوړند حالت غوره کوي،یانې چپه اړخ ته ځړیږي،مګر کله چي انسان پر راسته اړخ بیدیږي اینه چي لوی غړی دئ زور یې خواته کیږي چپه سږي کوچنی،سپک دئ، او پرمعده یې زور نه راځي نو دهضم کار چابک کیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |

**439پوښتنه: څو ساعتونه پرلپسي خوب کول څنګه دي؟**

**ځواب: هغه وګړی چي پرلپسي څوساعتونه پر یوه حالت خوب کوي دزړه په ناروغیو داخته کید امکان یې ډېر دئ،ځکه په زړه او رګونو کي یې غوړ،چربي رسوب کوي ځای نیسي او درګونو دکمزورۍ او لمنځه تللو لامل یې کیږي او رګونویې بیا ددې تونایي نلري چي عضلي یې تغذیه کړي.**

**440پوښتنه: دسهار دلمانځه ځیني روغتیايي ګټې بیان کړه؟**

**ځواب: دسهار لمانځه ته په پورته کیدلو زړه او رګونو په هغوئ کي دوینې دغوړ درسوب څخه خلاصیږي؛دزړه درد ارامیږي، انسان ته روحي سکون پیداکیږي،درګونو دتنګیدا څخه ژغورل کیږي.**

**441پوښتنه په ښه لمونځ کولو کي ځیني روغتیايي ګټې بیان کړه؟**

**ځواب: دسپاینل کارډ نارغي لمونځ کوونکو ته کمه پیښیږي،همدرنګه دبندونو دالتهاب،واریس،دپښو په وریدونوکي دوینې دغوټه کیدو،په لګن خاسیره کي دوینې دتراکم چي دبواسیرو او درحم دخونریزۍ لامل کیږي دښه لمونځ کوونکو په منځ کي په کمه اندازه لیدل کیږي دنفستنګۍ ناروغي لمونځ کولو سره کم پیښیږي، همدارنګه ښه لمونځ کول انسان په ضعیفۍ کي دالزایمر ناروغۍ څخه ساتي،**

**442پوښتنه: روژه نیول کومو نارغیو ته ګټه کوي؟**

**ځواب :ځینې ډېرې زیان لرونکي او ناعلاجه ناروغۍ لکه دوینې دخوړې،شکرې لوړیدل،دعصبي رګونو کشیدل،دپښتورګو ناتوانې،دبدن**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمالګې تنظیم،دکلمو مزمن التهابونه،دصفرا تیږي او ځینې دپوستکي ناروغۍ په روژه سره رغیږي

**443پوښتنه: روژه نوري کومې روغتیایي ګټې لري؟**

ځواب:روژه نیول دانسان دحواسو نمو،وده، دنشه یې توکو څخه دځان خلاصول، دانسان دهوډ پیاوړتیا او ورته ډېرې نوري ګټې انسان لپاره لري.

**444پوښتنه: دطب د نظره په خپلوانو کي واده کول څنګه دي؟**

ځواب: دلومړۍ درجې خپلوانو په منځ کي دواده داړیکې ورسته ژنونونه،د سوی شکل پیښې،ناروغۍ،کمزوري،دبدني ناتوانۍ پیښې پنځوس سلنه بل نسل ته لیږدوي،په دویمه درجه خپلوانو کي دولس سلنه او په دریمه درجه خپلوان کي یاده سلنه شپږو ته راټیټیږي.

**445پوښتنه:په شپږمه اونۍ کي جنین په کوم حالت کي وي اوموږ څه وینو؟**

ځواب:وینو چي پزه او خوله دیؤبل سره ګډ سوي دي او دسترګو سره موښتي دي،لاسونه وینو چي پاړو په شان دي،سر دتنې سره موښتی دئ،دانځور دجنین دبلاربښت په شپږمه اونۍ کي دئ،دیادې اونۍ درپای ته رسیدا ورسته سر د تنې څخه بیلیږي او دسترګو،پزې،غوږو،لاسونو او پښنو جوړښت،شکل ښکاره کیږي،دا ډول انځور دجنین دشپږمې اونۍ په پای کي څرګندیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**446پوښتنه: دخاوند اومیرمني دیؤځای والي په وخت کي دسپرمو اندازه څومره وي؟**

**ځواب د زوجینوخاوند اومیرمني دیؤځای والي په وخت کي دسپرم،نطفو اندازه دري سوه میلیونه وي.**

**447پوښتنه: سپرم څنګه جوړښت لري؟**

**ځواب:هر سپرم د غاړې، تنې او لکۍ لرونکی وي په مایع کي غوټه چي دهغوئ حرکت اسانه او دهغه څخه خوراک کوي.**

**448پوښتنه: په سپرم او ووم کي څشي سته؟**

**ځواب: په سپرم او ووم کي یؤ شی کشف سوی چي پوهان هغه ته ژن وایي،په یؤه نطفه او هګۍ کي څومیلیونه ژنه پیژندل سوي دي چي په مالوم وخت کي په حیرانوونکي ډول خپل کار پیل او شکل نیسي.**

**449پوښتنه: په هغه انځورونو کي چي دجنین څخه اخیستل سوي دي څشي لیدل کیږي؟**

**ځواب: جنین په یاده نازکه پرده کي لیدل سوی چي درحم لوړ لورته ځړول سوی وي او درحم د دیوالونو سره ټکر نه کوي،ددې سربیره یؤډول مایع دجنین ټولې خوا وي نیولي وي چي دټولو پیښیدونکو وهنو څخه جنین خوندي پاته سي،دیادې مایع اندازه په دریمه میاشت کي پنځوس ملي لیټره او اخري میاشت کي زر ملي لیټرو ته رسیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**450پوښتنه: دبلاربښت دري ګونې پړاونه کوم پړاونه دي؟**

ځواب: لومړی پړو دشک پړاو دئ چي په یاد پړاو کي دښځې میاشتنۍ ناروغي؛عدت بندیږي او دښځې دمیاشتنۍ ناروغۍ ورکیدا دښځې دبلاربښت یوه نښه ده، مګر دانښه دپوره باور وړ نه ده.

دویم پړاو دشک دپړاو ورسته یو بل پړاو پیل کیږي چي په هغه کي حمله ښځو ته ځیني نارحتۍ پیښږي لکه دمعدې ستونزې؛زړه بدی،خوا ګرځی،سرګښتي، تروو یا خوږو شیانو ته ډېره شوق کیدل.

دریم پړاو ورسته در ۱۲۶ورځو یانې درځلور میاشتو او لسو ورځو ورسته هغه میاشت چي قرآنکریم یې یادونه کړي ده دجنین زړه په ټپیدو غورځیدو پیل کوي او ښځه دهغه تکان او حرکت حِس کولی سي په دغه پړو کي ښځه دریم پړاو ته دبلاربښت چي دیقین پړاو دئ رسیږي.

**451پوښتنه: امینیون پرده څشي ده؟**

ځواب:امنیون پرده،غشاء ، یادې پردې؛ جنین دهر لوري څخه پوښلی ترلې پرده ده چي په هغې کي دامنیون په دئ، امنیون پرده یوه نازکه او نامه مایع شتون لري چي دجنین په وده او نمو کي مرسته کوي، دیادې مایع اندازه په اوومه میاشت کي یو نیم لیټر او د ولادت څخه مخکي یې اندازه زرملي لیټرو ته راګرځي.

څوک باور کولی سي که یادې اوبه نه وای جنین دهتمي مرګ څخه نه سوای ژغورل کیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه مایع جنین تغذیه کوي،په هغې کي ترکیبي توکي،قندي توکي او مالګې شتون لري،

دغه مایع دجنین سره دصدماتو او ټکرونو څخه د خوندیتابه لپاره مرسته کوي.

452پوښتنه: یاده مایع نورې کومې دندې لري؟

ځواب: دجنین دپیدایښت دلارې پاکي، دولادت آساني، دمناسیبې تودوخې برابرول، دجنین آزاد او آسانه خوځښت اودضرباتو،وهلو څخه دجنین خوندیتوب دیادې مادې کارونه دي چي هریو یې ځانته ځانګړې ارزښت لري.

453پوښتنه:رواني،روحي فشار د بلاربښت په وخت کي دجنین داختلال لامل کیږي که نه؟

ځواب: بیله شکه ډېر رواني او عاطفي فشار چي یوه ښځه دبلار ښښت یا دهغه څخه په مخکي وخت کي ورسره لاس او ګریوان وي کولی سي جنین ته دزیان رسیدا لامل سي،ځکه جنین ته دزیان رسوونکو کارونو دمور رونې فشار،خفګان دئ:دډلې څخه یو یې.

454پوښتنه: ایا داندازې څخه ډېره خوشحالي ښه ده؟

ځواب:داندازې څخه ډېر غم او خوشحالې دانسان پر روحي اوبدنې حالت اوروغتیا ناوړه اغیزه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**455پوښتنه: په دويمه نړيواله جګړه کي څومره خلګ مړه سول؟**

**ځواب: دا به حيرانوونکي وي چي خبرسئ په دويمه نړيواله جګړه کي دوه ميليونه غر بي وګړي دروني فشار له کبله مړه سول په داسي حال کي چي دجنګ په ميدان کي دري ميليونو وګړو خپل ژوند دلاسه ورکړی وو.**

**456پوښتنه: اروا پوهنه څنګه پوهه ده؟**

**ځواب: اراپوهنه هغه پوهه،علم دئ چي دځانګړونو،قوانينو،حيرت،غوسې،انګيزو،غوښتونو،**

**توانايي او کمزوريو څخه خبرې کوي خو ددې څخه بې خبر دي يايې ځان بې خبره کړی چي قرآنکريم اراپوهنې اړوند موږ ته لارښوونې لري.**

**457پوښتنه: نفس مطمئنه کوم نفس دئ؟**

**ځواب: نفس مطمئنه هغه نفس دئ چي خپل پيداکوونکی،خالق وپيژنې او دهغه پرنومونو،لوړو ستاينو،وعده،وعيد،جنت او دهغه پريوالي يې ډاډ موندلی،پيداکړی وي پر دي يقين،باور ايمان ولري چي بيله الله‌ﷻ بل دعبادت وړ،لائق نسته.**

**457پوښتنه: نفس زکيّه کوم نفس دئ؟**

**ځواب:نفس زکيّه يانې هغه نفس چي دهرې ناپاکۍ ،عيب او دهر بد صفت څخه پاک او ليري وي،نفس زکيّه هغه نفس دئ چي خپله ورسپارل سوي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنده يې سرته رسولي وي او هرهغه څه چي دده په ګټه وي زور،ظلم،بربريت او زياتې څخه پرته يې اخيستي لاسته راوړي وي.

**458پوښتنه: کوم نفسونه شتون لري؟**

ځواب: دمطمئنه،زکيّه،لوّمه،حاسده،آشمه،مکار،سرکښ،که بخيل.

**459پوښتنه:ژړ رنګ دانسان پر مغزو کومه اغېزه لري؟**

ځواب:ژړ رنګ دخپلو اوږدو څپو په درلودلو زموږ پر مغزو دخوښۍ د احساس ورکولو اغيزه لري.

**460پوښتنه: درنګونو ځينې ځانګړتې څرګندې کړئ؟**

ځواب: ارغواني رنګ ارام او سکون ورکوونکی رنګ دئ همدارنګه سور او اوبيز رنګ هم ارام او سکون ورکوونکي رنګونه دي، مګر هغه رنګ چي انسان ته خوښې،ورکوي دانسان ماغزه په خوځښت راولي هغه شين يازرغون رنګ دئ،په همدې خاطر الله جل جلاله نباتات په زرغونې،شنې په نباتاتو پوښلې زرغونه،شنه رنګ پيداکړي دي؛دمځکې سيمې چي ډېر وګړي يې ليدو ته ځي هغه ځايونه دي چي انسان ته ارام او خوښې ورکوي.

**461پوښتنه: دخښم يا خفګان پر روغتيا کومه اغېزه لري؟**

ځواب: هيجانات او خښم په بيلابيلو لارو سره دزړه دضربانو دډېريدلو،دتېز تنفس کولو او دفشار دلوړ تللو لامل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**462پوښتنه: داوزون دګازاندازه څه وخت ډېره وي؟**

**ځواب :پوهان وايي داوزون ګاز ډېراندازه دلمر راختلو په وخت کي وي او دغه اندازه داوزون دګاز دلمر تر راختلو ورسته لږ او بيا خلاصيږي.**

**يادګاز پر عصبي سيستم جوړونکي اغيزه لري او همدرارنګه دفکري او عضلاتي غوړيدا سبب کيږي.**

**463پوښتنه: هرڅوک چي دلمر دراختلو په وخت کي بيده وي څه ورته پيښيږي؟**

**ځواب: هرڅوک چي دلمر دراختلو په وخت کي بيده وي دورځي په جريان کي به دکهالئ او دبدن دسوستئ احساس کوي.**

**464پوښتنه: اوږد ياپرلپسي خوب کوزيان لري؟**

**ځواب: پروخت دخوبه راکښينستل داوږده يا پرلپسي خوب مخه نيسي ځکه اته ساعته پرلپسي خوب دبدن وده او دزړه ضربان کموي او وينه په سختئ په رګونو کي تيريږي،دويني په رګونو کي دوينې غوړ دركونو پرديوالونو رسوب کوي او دوينې درګونو دتنګئ او دسينې ددرد انجينا لامل کيږي**

**465پوښتنه: ويټامين ډي چيري جوړيږي؟**

**ځواب: درپوستکي لاندي او په اينه کي.**

**466پوښتنه ويټامين ډي څو دندې بيان کړئ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب: دکلمو څخه دکلسیم او فسفورس دجذب لا مل کیږي**

**ویټا مین ډي دجنین په وده کي مرسته کوي،همدارنګه یا ویټامین دپانقراص څخه دانسولیونو په تولید او دپوستکي دژونکو په نمو کي هم خپله ونډه لري.**

**467پوښتنه داوداسه اړیکه دسترګو ددانو ، ناروغئ سره څه ده؟**

**ځواب: اودس کول دیادې ناروغئ په مخنیوي کي پوره ونډه لري.**

**468پوښتنه داودس کولو روغتیایې ګټې بیان کړئ؟**

**ځواب:اودس اودهغه روغتیایي ګټې په یوڅیرنه کي چي دیؤه عربي پوهنتو پروپیسرانو سرته رسولې وه دا یې ثابت کړې وه هغه وګړي چي په ورځ کي پنځه واري اودس تازه کوي خپله پزه دباکتریاوو،ویرسونو،ګرز او غبار څخه پاکوي او هغه وګړي چي یاده کړنه سرته نه رسوي خپله پزه دباکتریاوو،ویرسونو،او ګرز څخه نه پاکوي او خپل ځان دیؤلسو نارغي پیښوونکو باکتریاوو خطر ته ځان په لاس ورکوي.**

**اودس کول دپښو دګوتو په منځ کي دپرازیتي ناروغیو څخه اودس کوونکی خوندي کوي،همدارنګه پوستکی دچرکینودانو او التهابونو څخه ساتي،دپوستکي دسرطان احتمال راکموي ځکه کیمیاوي مواد مخکي له دي چي په پرپوستکي تراکم وکړي سره را یؤځای سي لمنځه یې وړي،په همدي خاطر دا حقیقت راڅرګند سوی دئ چي په اسلامي هیوادونو کي دپوستکي دسرطان پیښې کمي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**داوداسه په وخت کي اندامونه يؤډول مساژ کيږي چي ياده کړنه ددې سره مرسته کوي چي په رګونو کي دوينې بهيدنه ښه فعاله سي او ياد غړي ښه تغذيه سي.**

**اودس دمرکزی عصبي سيستم ترل کيدل کموي او ذهن ښه فعاله کوي.**

**469پوښتنه:دپاکۍ روغتيايي ګټه څشي ده اسلام ولې پرپاکوالي مرعت ولو تېنګار کوي؟**

**ځواب:په نړۍ کي دري سوه ميليونه غيرمسلمان وګړي په بدو اوداسي نارغيو اخته دي چي دناپاکۍڅخه ورپيښې سوي دي.**

**پوښتنه: ستوني ستخ بېديدل څنګه دي؟**

**ځواب:هغه چي ستوني ستخ بيديږي دپاکۍ او تودوخي تنظيمونکی سيستم دنده يې دستونزو سره مخ کيږي.**

**470پوښتنه: پړمخي بيديدل څنګه دي؟**

**ځواب: څوک چي پړمخي بيديږي دنفستګۍ احساس کوي ځکه دملا زور يې پر سږو راځي دا ډول ويدېدل ښه نه دي.**

**471پوښتنه :رواني،روحي فشار د بلاربښت په وخت کي دجنين دنوروکومو بدنې ستوزو لامل کيږي؟**

**ځواب: دلب چاک،دماشوم دشونډو مورزاده پري والی، دزړه سوري کيدا اونورو اختلاطاتو لامل کيدای سي، ديادې موضوع دلا ښه څرګنديدا په پار وايي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**روانې ستونزې پر هغه هورمن چې په وینه کې دخوړې دلوړ تیا او په نسجونو کي داکسیجن دکښته تللو لامل کیږي اغیزه کوي او دوئ دواړه دجنین پر بدني اختلال اغیزه کولی سي.**

**472پوښتنه: آیا جنین احساسات لري؟**

**ځواب:هر کله چي مور په روانې ګډوډۍ لکه خفګان یا ژور خفګان باندي اخته سي یاد حالت یې پر جنین هم اغېزه لري، او دهغه غړي مضطرب کیږي،کله چي مور ارامه او خوشحاله وي جنین هم ارام او خوشحاله وي،جالبه داده چي ماشوم دمورپه خیټه کي دپلار ږغ ته میل لري،هغه ته غوږ نېسي او ورسته درپیدایښت دغه حالت کي ډېروالی راځي.**

**473پوښتنه: ایاجنین دمور په نس کي ږغونه اوري؟**

**ځواب: هو جنین دمور دخیټې دغړو ږغونه اوري که مور دخپل خیټې دماشوم سره مینه کوي هغه یې هم ورسره کوي که مور مینه نه ورسره لري دپیدیښت څخه ورسته لاهم ماشوم مینه نه ورسره کوي حتا ځیني وخت دهغې شیدې نه روې.**

**474پوښتنه: د مور شیدې؟**

**ځواب ډاکټران وایي دمور شیدې ډېرې جالبې او حیرانوونکي دي که دنړیوالو ټوله پوهه سره راغونډه سي، نه سي کولی دهغوئ جوړښتېزي ځانګړنې درک کړي اولوې فابریکې به هم ونه سي کولی هغوئ جوړې کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**475پوښتنه:دماشوم لپاره دغوا او پوډرې شیدې څنګه دي؟**

**ځواب:دماشوم لپاره دغوا او پوډرې شیدې زیان لري داسې غوړي او**

**مواد دغوا په شیدو کي شتون لري چي ماشوم يې نه سي هضمولی،همدارنګه پوهان وايي هغه اسيد تېزاب چي دغوا په شيدو کي شتون لري کيدای سي دماشوم دنه ودې، دزړه، هوښي ناروغيو،اينې، هضمي او دبيلا بيلو دوام لرونکو ناروغيو لامل سي.**

**476پوښتنه: دمور دشيدو او پوډري شيدو دهضم په وخت کي توپير سته**

**ځواب: هو دمور دشيدو هضم دیۆ نيم ساعت څخه ډېر وخت نه نيسي، مګر دپوډري شيدو هضم د درو ساعتونو څخه ډېروخت نيسې.**

**477پوښتنه: مور دشيدو دډېرګټو څخه دځوګټو يادونه يې وکړه؟**

**ځواب: هغه ماشوم چي دمور دشيدو څخه تغذيه کيږي دټولو ناروغيو پروړاندي واکسين کيږي ځکه دمور شيدې د داسي موادو لرونکي دي چي دتنفسي او کلمو دناروغيو لپاره درملنه کوونکي دي، ددې سربيره دمورشيدې کم لګښته دي ډېر وخت دماشوم تنفسي او دکلمو ناروغۍ دمور په شيدو سره جوړيږي دمور په شيدو کي داسي مواد شتون لري چي ميکروبونه پر کلمو دمښليدلو څخه راګرځوې،همدارنګه دميکروبونو دلمنځه وړلو لپاره تيزابي مواد هم په کښي پټ دي،دمور شيدې خوړونکی ماشوم د ډېرو**

**ناروغيو لکه :وينه لرونکي نسناستې،دماشوم مانو دفلج څخه خوندي ساتي، ځکه دمور شيدي ماشوم ته ديادو ناروغيو پر وړاندې معافيت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي،همدارنکه دمورشیدې ماشوم دزړه دناروغیو،زهنې ناروغیو او تغذیه یي ناروغیو څخه ساتي ،دتي څخه دماشوم ژر پري کول ماشوم په رواني،روحي او دچلند دګډوډئ په ناروغیو اخته کوي.

**478پوښتنه: بته ګوته څه ارزښت لري؟**

ځواب: که څه هم ډېر وګړي به باور ونه کړې خو هغه پرمختګ چې انسان په هغه ویاړي د همدې بتې ګوتې له کبله دئ.

**479پوښتنه: که یؤ وګړی کمپیوټر ته کښینې او شپږ ساعته کاروکړي دهغه بتې ګوتې به څومره کارکړی وي؟**

ځواب :که یؤ وګړی کمپیوټر ته کښینې او شپږ ساعته کاروکړي دهغه بتې ګوتې به د څلویښتو کیلومترو دلارې دتګ په اندازه کار کړی وي بیله دي چي یاد وګړی په دې خبره پوه سي.

**780پوښتنه: زموږ لاس څنګه جوړښت لري ؟**

ځواب:زموږ په یؤه لاس کي ۲۷ هډوکي، ۲۸مفصلونه او ۳۳عضلې شتون لري.

**481پوښتنه: زموږ دبدن عضلې څنګه جوړښت لري؟**

ځواب:عضلې دمیلیونونو تارونو څخه جوړې سوي دي، دغه هر یؤ تار پر عصبو پای ته رسیدلی دئ او هر وخت چي د مغزو څخه یادو تارونو ته امر راځي دوئ سره را غونجیږي منقبضي کیږي،یانې دا چي شپیته سلنه اوږدوالی یې په خپل ځان کي را لنډیږي او څلویښت سلنه یې پاته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**482پوښتنه: دانسان هډوکي څنګه په حرکت راځي؟**

**ځواب:هر هډوکی ددو عضلو سره مښتی دئ یؤه عضله هغه ته راسته بله عضله هغه ته چپه لورته حرکت ورکوي، یؤه عضله هغه راټولوي اوبله عضله هغه خلاصوي.**

**483پوښتنه انسان که دیؤې مانۍ دیؤه پوړ څخه وه بل پوړ ته وخيږي هغه څومره قوه مصرف کړل؟**

**ځواب:هغه خپل اویا کیلوګرامه وزن، دري متر لوړ وړی دئ چي دا د یؤنیم آس دمحرکي قوې سره برېره قوه ده.**

**484پوښتنه:آیاحجرې نوي کيږي؟**

**ځواب: هو دبدن لوی حجرت او دژونکو ټولګې لکه نسجونه،عضلي، هډوکي،ټول سیستمونه حتا وریښتان او هر ډول حجرې چي په بدن کي شتون لري هر پنځه یا اووه کاله ورسته نوي کيږي،ښه نو تاسو اووه کاله ورسته یؤبل ډول انسان یاست چي یؤ پخوانۍ حجره مو هم په بدن کي نه ده پاته.**

**485پوښتنه: آیا دمغزو حجرې هم نوي کيږي؟**

**ځواب:یا هغه نه نوي کيږي.**

**486پوښتنه: آیا ماغزه داسي ماده ترشح کوي چي درد لمنځه وړي؟**

**ځواب: پوهانوموندلي ده چي په مغزو کي نشه يي ماده شتون لري کله چي د درد زغم دانسان دتوان څخه ووځي ماغزه یاده ماده ترشح کړي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |

ترڅو د درد احساس لمنځه یؤسي، دا چار دالله جل جلاله درحمت او مهربانۍ ښکارندوینه کوي.

487پوښتنه:که چیرې دنړۍ ټولې باکتریاوي پریؤبل و اوډو یایې دځنځیر په ډول سره وتړو اوږدوالی به یې څومره سي؟

ځواب لس۱۰ نوري کلونو ته به ورسیږي.

488پوښتنه: که چیري دنړۍ ټول یخی سمندرونه ویلي سي، دسمندرونو دابو سطحه به څومره لوړه سي ؟

ځواب:لس متره.

489پوښتنه: آیا موږ دشیدو لارې دکهکشان واقعي انځور لرو؟

ځواب: نه دراوسه موږ دشیدو لارې دکهکشان واقعي انځور په لاس کي نه لرو.

490پوښتنه: ښځې دنړۍ دفقیرانو څو سلنه جوړوي؟

ځواب: دنړۍ دفقیرانو اویا سلنه ښځې دي.

491پوښتنه: ښځې دنړۍ دنالوستو څو سلنه جوړوي؟

ځواب: ښځې دنړۍ دنالوستو۶۵ سلنه جوړوي ۶۵

492پوښتنه آیا دباران اوریدل خپګان کموي؟

.ځواب: هو دباران اوریدل خپګان ختموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



493پوښتنه: دانسان سترګې څومره وزن لري؟ ځواب: اته ګرامه.

494پوښتنه: دانسان ماغزه دڅوحجرو څخه جوړ سوي دي ؟

.ځواب: د۸۶میلیارده حجرو څخه.

495پوښتنه: حافظه څومره مالومات خوندي کولی سي؟

ځواب: کله چي انسان شپیته کاله عمر ولري په حافظه کي یې دشپیتو میلیاردو په اندازه خبرتیاوي، مالومات او انځورونه ذخیره وي، که وغواړو یاد ټول مالومات ولیکو په زرګونو جلده کتابونه به تري جوړ سي او دا کتابونه به د داسي مالوماتو لرونکي وي چي موږ به نه پوهیږو چي یاد مالومات دمغزو په کومه برخه کي خوندي سوي وه.

496پوښتنه: دانسان دحافظې په اړه څنګه یؤه نظریه شتون لري؟

ځواب: داسي نوي نظریي شتون لري چي حافظه په مغزو کي هیڅ ځای نه لري بلکي په رواني او روحي ژوند پوري اړوند کیږي.

497پوښتنه: دانسان حافظه څنګه مالومات خوندي کوي؟

ځواب: هغه مالومات چي انسان ته رسیږي ځیني یې نژدي او د لاس لاندي ځای پرځای کیږي ترڅو داړتیا په وخت کي ژر انسان هغو ته لاس رسی ولري،ځیني نور یې لږلیري،ځیني نور مالومات بیا ډېر لیري ځای پرځای کیږي او ځیني داسي مالومات هم وي چي هیڅ نه ذخیره کیږي، کله چي کوم انځور،خبر یا مالومات مغز ته ورسیدل دهغې د ډول پر بنسټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ویشل کیږي،ځیني دبوئ اړوند وي؛ځیني یې دلیدلو اړوند وي؛ځیني یې دڅیهرو اړوند وي،بل ډول یې درنګونو اړونده وي،ځیني یې دعطرونو اوځیني نوریې بیا دلیکونو؛نومونو اړونده وي، دا یو ډېر دقیق پرځای او ښکلی چار دئ.،**

**498پوښتنه: دغوږ منځنۍ برخه د کوم کانال په مرسته دستوني سره مښلي؟**

**ځواب:دغوږ منځنۍ برخه د، شیپوراستاش کانال په واسطه دستونې سره مښلولي.**

**499پوښتنه: یادکانال دغوږ دپردې لپاره څه ګټه لري؟**

**ځواب:که چیري دږغ دومره فشار چي دغوږ دپردې دسوري کیدو وړتیا لري غوږ ته ننوځي په پایله کي یې همدومره اندازه فشار دخولې دخوا راځي ترڅو دواړه فشارونه سره برابر سي او په دې ډول سره دغوږ پرده صماخ دپري کیدو؛څیري کیدو څخه خوندي پاته کیږي.**

**500پوښتنه: دغوږ دهډوکو: سندان رکاب اوچکش دیوې دندې په اړه راته و وایاست؟ ځواب: ددې درو هډوکو کار ډېر حیرانوونکی دئ کمزوري او ټیټ ږغونه شل بربره لوړ او لوړ ږغونه ټیټوي، ښه نو یو کوچنی سیستم دوه کارونه دغږونو ټیټول او لوړول پر غاړه لري؟.**

**۵۰۱پوښتنه: آیاټول ګونګیان کاڼه وي؟**

**ځواب: هو کله چي کوم وګړی مور ذاده کوڼ وي ګونګی به هم وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

۵۰۲پوښتنه: جنین په څویمه اونۍ کي ږغونه اورې؟

ځواب: جنین په ۲۲اونۍ کي ږغونه اورې.

۵۰۳پوښتنه: دپیدایښت څخه څومره وخت ورسته دلیدلوحس بشپړیږي؟

ځواب: د شپږمې میاشتې په نیمایي کي.

۵۰۴پوښتنه: په یوثانیه کي ږغ څومره فاصله طی کوي؟

ځواب:ږغ په یوه ثانیه کي تخمین ۳۳۰کیلومتره فاصله طی کوي.

۵۰۵پوښتنه: سترګي درنګونو په بیلوالي کي څومره دقت لري؟

ځواب: که موږ دبیلګې په ډول زرغون رنګ یابل هر رنګ په اته سوه زرو برخو وویشو، ددو برخو په ډېر یدنه روغي سترګې کولی سي په یادو اته سوه زرو برخو کي هغه مالومې کړي.

۵۰۶پوښتنه: که الله جل جلاله یوازي یوه سترګه موږته راکړي وای څه پیښ سوي وای؟

ځواب: په هغې به موجسمونه هوار لیدای نه په دریو ُبعدي ډول

۵۰۷پوښتنه: زموږ سترګې په یوه ثانیه کي څوانځورونه ومغزته استولی سي؟

ځواب: زموږ سترګې کولی سي په یوه ثانیه کي پنځوس انځورونه مغزوته واستوي او مغز به هم دیادو پنځوسو انځورونو مانا او مفهوم درک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**٥٠٨پوښتنه: دسترګي په شبکیه کي څومره اخذې شتون لري؟**

**ځوابک دسترګې شبکیه چي دڅوملي مترو څخه ډېر مساحت نه لري یؤسلو دیرش میلیونه استوانه اي اخذې،نیوونکي دسپینو او تو رنګونو لپاره او اووه میلیونه اخذې نیوونکي درنګونو اونور کارونو لپاره شتون پکښې لري.**

**٥٠٩پوښتنه:که چیرې دسترګو قرنیه دبدن دنورو نسجونو په ډول د وریښته ته ورته کوچنیو رګونو په مرسته تغذیه کیدای څه به پیښ سوي وای؟**

**ځواب: زموږ لیدل به په اوسني ډول نه وای؛یؤه پرده یا تاریکي به مو دسترګو مختته احساسولی، مګر قرنیه دانتشار، پاشلي لارې تغذیه کیږي،داسي چي خپل غذا دباندنیو او ګاونډیو حجرو څخه اخلي، دقرنیه او عدسي په منځ کي رونې اوبه دې چي قرنیه دهغوئ دلارې خپل ځان تغذیه کوي، ښه نو ځکه خو موږ رونې؛صاف او ښکاره لیدل کولی سو.**

**٥١٠پوښتنه: په پزه کي څومره دبوی حس کولو اخذې شتون لري؟**

**ځواب: په پزه کي ١٠٠میلیونه عصبي اخذې چي بوی ته ځانګړي سوي دي شتون لري.**

**٥١١پوښتنه: دغه عصبي اخذې چیرې ځای پر ځای سوي دي؟**

**ځواب: دغه ټولې عصبي حجرې دپزې په پورتني هډوکي کي ددوسوه پنځوس ملي مترو په دننه کي ځای پر ځای سوي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۱۲پوښتنه:دانسان ماغزه څومره بویونه حس کولی سي؟**

**ځواب: ماغزه لس زره بوینه نه یوازي داچي دیوبل څخه جلاکوي بلکي هغه پیژني هم؛ ځکه په مغزوکي یو د دبوی ساتنه ځای یا حافظه شتون لري.**

**۵۱۳پوښتنه:دانسا ماغزه څومره بوی احساس کولی سي؟**

**ځواب: دمیلي ګرام نیم میلیونیمه برخه بوی په یو سانتي متر مکعب کي احساسولی سي.**

**۵۱۴پوښتنه: دځینو حیواتو بویایي حس دانسان څخه څومره پیاوړی وي؟**

**ځواب: دځینو ژوو بویایي حس دانسانانو څخه یو میلیون ځله پیاوړی وي.**

**۵۱۵پوښتنه: هډوکي دڅشي څخه جوړ سوي دي؟**

**ځواب:پوهان وایي هډوکي دیوې اساسي مادې کلسیم دټولګې څخه ترکیب سوي دي،مګر دهډکو دجوړښت د ترکیباتو توزیع بل ډول ده هډوکي۸۵ سلنه دکلسیم او فسفیټ څخه لس سلنه دکلسیم کربناټ دري زرمه برخه یې کلسیم کلورایډ،دوه زرمه برخه یې کلسیم فلورایډ او یوه پر سلمه سلنه برخه یې فسفیټ مګنیزیم څخه جوړ سوي ده، دانسان دبدن ۹۹سلنه کلسیم په هډکو کي کارول سوی دئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۱۶پوښتنه: دکلسیم جذب دکلمو څخه دڅښي په مرسته سرته رسیږي؟**

**ځواب:دکلسیم جذب دکلمو څخه دپارا تیروئید غدې په مرسته سرته رسیږي.**

**۵۱۷پوښتنه: دکلسیم د په کاراچونې لپاره دکوم ویټامین شتون اړین دئ؟**

**ځواب:دکلسیم؛ دپه کاراچونې لپاره په هډکوکي؛ دویټامین ډي شتون اړین دئ.**

**۵۱۸پوښتنه:د ورانه هډوکی څومره وزن زغملی سي؟**

**ځواب:د ورانه هډوکی د ۲۵۰ کیلو ګرامو وزان څخه ډېر دروندوالی زغملی سي.**

**۵۱۹پوښتنه: دشوکي نخاع جوړښت څنګه دئ؟**

**ځواب: دنخاع قطر یوسانتي متر او اوږدوالی یې د۴۰څخه در۴۵سانتي مترو پوري دئ.**

**۵۲۰پوښتنه: که دهډکو جوړښت په اوسني شکل نه وای څه به پیښ سوي وای؟**

**ځواب: دهډوکو داخلي برخه سوري لرونکي؛ سفنج ډوله جوړښت لري، که دهډوکو دننه برخه د باندنۍ برخې په ډول وای زموږ دهر یوه وزن به دهمدې اوسني حالت څلور برابره وای، که اوس دیوچا دروندوالی ۷۰کیلوګرامه وای، هغه وخت به یې وزن ۲۴۰کیلو ګرامه وای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**۵۲۱پوښتنه: آیادانسان هډوکي نوي کيږي؟**

**ځواب: هو دمیانه عمر لرونکي انسان اسکلیټ دهغه په ژوند کي پنځه ځله نوی کيږي یاني په هر شپږو یا اوو کالو کي دانسان دهډوکو حجرې،ژونکي نوي کيږي.**

**۵۲۲پوښتنه: د هډکو جوړیدنه څه وخت پیلیږي؟**

**ځواب: دانسان دبدن دهډکو جوړیدنه،دغضرف بدلیدنه په هډوکو دجنیني ژوند څخه پیل کیږي او در اولس کلنۍ یا یؤېشت کلنۍ پوري دوم پیداکوي.**

**۵۲۳پوښتنه: کله چي انسان دورځې په اوږدو کي خپل سترګې د پردیو ښځو څخه نه اړوي،خپل د سترګو پرلیدو برلاسی نه وي څه پیښيږي؟**

**ځواب:جنسي هورمونه لکه ټستېسرون، دبدن په بیلا بیلو برخوکي دوینې درګونو په مرسته په ګرځیداپیل کوي،**

**همدرانګه دورځې په اوږدو کي په وینه کي دیاد اونورجنسي هورمونونو ګرځیدل، دزړه د درازا دکمیدو،دوینې دګرځیدا دناتوانۍ؛ کلکیدو لامل کيږي چي همدغه چاره بیا شریانونو ته زیان رسوي او شریانونو کي رسوب کوي،شریانونونه تنګوي، که یاد هورمونه دبدن یؤې برخې ته ډېر ولاړسي کیدای سي چي دړندیدا،ګوډیدو،لیونتوب،د یاداښت دمنځه تلو او ورته ناروغیو لامل سي، همدارنګه که دورځې په اوږدو کي یاد زهر دانسان په بدن کي دګرځیدا په حال کي وي کیدای سي دژبې دبندیدا او قبض لامل سي چي خپله قبض پنځوسو ناروغیوته لار پرانیزي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٥٢٤ پوښتنه: دغوږ پرده صماخ څنګه جوړښت لري؟**

**ځواب: دغوږ پرده چي ډېره نازکه ده؛ ضخامت يې نيم ملي متر ته نه رسيږي،قطر يې هم ٩ملي متره دئ چي ديؤ سانتي متر څخه کمه اندازه کيږي، دهر وګړي په غوږونو کي په ډېر نظم او ځانګړي دقت سره کار کوي؛دغه پوست،پرده دملا دهډوکو په شان کروړه، دنرم او کش خوړونکي پلاستيک په شان ده چي د ږغونو په ليږدونه کي خورا ښه کار سرته رسوي،**

**که يا ده پرده دکاره ولويږي انسان کوم ږغ نه سي اوريدلی او کڼيږي.**

**٥٢٥ پوښتنه مچۍ دڅومره ځای څخه بوی حسولی سي؟**

**ځواب: دشاتو مچۍ د کيلومترونو څخه دګل دشيرې بوی احساسوي، همدارنګه دخپل کندو بوي هم دکيلومترونو ليري څخه احساسوي.**

**٥٢٦ پوښتنه:غوماشه دڅومره ځای څخه دخؤل بوی حس کوي؟**

**ځواب:غوماشه دانسان دخؤلې بوي د٦٠ کيلومتره ليري څخه احساسوي**

**٥٢٧ پوښتنه: دتريخ خوند مالومونکو حجرو وړتيا دخوږ خوند مالوموونکو حجرو څخه څومره ډېره ده؟**

**ځواب: دترخو خوندونو مالومونکو،څکونکو حجرو د دخوند دمالومولو وړتيا دخوږو خوندونو دخوند پيژندونکو حجرو څخه لس زره بربره ډېره ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۲۸پوښتنه: په مغزو کي دخوند حس کولو مرکز څومره خوندونه پېژني؟**

**ځواب: ياد مرکز کولی سي چي لس زره خوندونه ديوبل څخه بيل او وپېژني.**

**۵۲۹پوښتنه: شريانونه څومره اوږدوالی لري؟**

**ځواب: د ۱۵۰۰کيلومترو څخه ډېر اوږدولی لري.**

**۵۳۰پوښتنه: زړه څه وخت ژوند پيلوي؟**

**ځواب:زړه خپله دنده دجنيني ژوند يا د مور په خېټه کي ددويمي مياشتې څخه پيلوي او دانسان دمرګ دروخته پوري په خپله دنده کي هيڅ غفلت نه کوي،نه يې هيروي، خوب نه کوي، نه دريږي، نه ستړی کيږي، او بيله کوم لارښود خپله دنده په ښه ډول مخته وړي.**

**۵۳۱پوښتنه: که ټولو رګونه ډولونه د يوبل سره وتړو اوږدوالی به يې څومره سي؟**

**ځواب:که ټولو رګونه ډولونه د يوبل سره وتړو اوږدوالی به يې ۹۶۵۶۱کيلومترو ته ورسيږي چي دا دومره اوږدوالی دئ چي دمځکې څخه داستوادکرښې پر برابر دو ځله راګرځيدای سي.**

**۵۳۲پوښتنه: دانسان په بدن کي د وريښته ته ورته کوچنيو رګونو شمېرڅومره دئ؟**

**ځواب :دسل څخه در يوسلو شپيتو ملياردو پوري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۳۳پوښتنه: وینه دورځې څو ځله په رګونو کې راګرځي؟

ځواب:وینه هره ورځ۳۷۰۰ځله په رګونو کې راګرځي.

۵۳٤پوښتنه: دانسان دژوند په اوږدو کې دهغه درګونو څخه څومره وینه تیریږي؟

ځواب: دانسان دژوند په اوږدو کې دهغه درګونو څخه دیؤنیم لکه ټنو څخه دردونیمو لکو ټنو پورې وینه تیریږي.

۵۳۵پوښتنه: دانسان زړه دهغه دژوند دړ پایه څومره قوه په مصرف رسوي؟ ځواب دانسان زړه دهغه دژوند دړ پایه دومره قوه په مصرف رسوي چې که ټوله قوه یې سره راغونډه کړو نو یؤه۴۸۰۰متره اوږده اورګاډی به تیل وهي یا به حرکت ورکړي.

۵۳٦پوښتنه: دوریدونو څخه ولي وینه کښته لور ته نه ځي حتاهغه وخت کله چې زړه دمځکې دجاذبې خلاف لورته هم وي؟ هم

ځواب:دهغو وریدونو لپاره چې وینه دپښو څخه زړه ته پکښي لیږدول کیږي الله جلاله داسي دروازې، جوړې کړي چې وینې ته اجازه ورکوي لوړ لورته ولاړه سي مګر نه پریږدي کښته راتوی سي یا بیا کښته راسي.

۵۳۷پوښتنه: که چیرې په یادو والونو یا دروازوکې ستونزه پیدا سي یا خپل کار په ښه ډول سرته ونه سي رسوای، څه پیښیږي؟

ځواب: پروریدونو فشار ډیریږي، وینه نسجونو ته نفوذ کوي او دپښو د پاړسوب واریس ناروغی لامل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۳۸پوښتنه: دوینې سره کرویات،ذرات څنګه حجرې دي؟**

**ځواب: دوینې سره ذرات یاکرویات داسي حجره ده چي دایروي بڼه لري مګر دکوچنیو رګونوڅخه دتیریدوپه حال کي ځانته بیلابیلې بڼې غوره کوي،دیادو ذراتو خواوي نازکې او قطر یې ۷ مایکرو متره کیږي، که ملي متر پر زرو برخو وویشو یوه برخه یې دمایکرو متر سره سمون لري مګر دیادو زرو ضخامت، پنډوالی د دوو مایکرو مترو څخه ډېر نه دئ، دوه مایکرو متره دملي متر دزرو برخو څخه دوه برخې دي.**

**۵۳۹پوښتنه:دانسان په بدن کي څومره دوینې سره ذرات شتون لري؟**

**ځواب: دیادو ذراتو تخمیني شمیر د پنځه ټریلیونو په شاوخوا کي دئ،یانې ۲۵زره؛ زره میلیونه.**

**۵۴۰پوښتنه: دوینې په هرملیمتر مکعب ساحه کي څومره سره کرویات شتون لري؟**

**ځواب: پنځه میلیونه سره ذرات شتون پکښې لري.**

**۵۴۱پوښتنه دانسان په بدن کي څومره دوینې سپین کرویات شتون لري؟**

**ځواب: پنځوېشت زره میلیونه سپین کرویات شتون لري.**

**۵۴۲پوښتنه:دهیپوفیز نخامیه یاملکه غده راته راوپېژنه؟**

**ځواب: په مغز کي نیم ګرام وزن لرونکي غده شتون لري چي ډېرې اړینې دندې سرته رسوي،**

**یاده غده د۱۵۰زره عصبي مزو سره مښتي،وصل ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۴۳ پوښتنه: دیادې غدې دیؤه هورمون په اړه راته وواياست؟**

**ځواب: د ودې هورمون؛چي آر يا ګروت دئ، یاد هورمون چي خپله هم۱۸۸ساتونکو تېزبونو څخه جوړ سوی دئ،ملکه غده يې ترشح کوي، دانسان په هر لیټر وینه کي باید لس مايکروګرام دګروت هورمون شتون ولري که ددې څخه يې اندازه کمه سي دانسان قد،تنه به کوچنۍ سي، یانې په ډوارفیزم به اخته سي،که دیاد هورمون اندازه دټاکلي اندازې څخه زیاته سي دانسان قد به د اندزې څخه زیات غټ سي لکه دنړۍ په کچه دلوی قد لرونکي انسانان په طبي ژبه یاد حالت ته اکرومېګالي وايي.**

**۵۴۴ پوښتنه: دپرولاکتین یا لاکتوژن هورمن څه دنده سرته رسوي؟**

**ځواب: دپرولاکتین یا لاکتوژن هغه هورمن دئ چي د شیدو دترشح سره مرسته کوي.**

**۵۴۵ پوښتنه: دفوق الکلیه غدې دهورمونون دکورټیکوټروپین دنده څشي ده؟**

**ځواب: دفوق الکلیه غدې دهورمونونو دترشح سره سم دزړه دربیدل دوه برابره کیږي، سږي خپل چار ګړندی کوي، رګونه تحریکوي ترڅو وینه په ښه ډول عضلوته ورسوي او ځيګر،اینې ته لارښوونه کوي ترڅو دقندونو آزادیده ډېر کړي، دا ټولې کړنې د هیپوفیز غدې په لارښوونه سرته رسیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٥٤٦پوښتنه: په معده کي څومره هضمي غدې مرغړې شتون لري؟**

**ځواب: په معده کي ۳۵میلیونه هضمي غدې چي په هر سانتي متر مربع کي په منځني ډول ۸۰۰غدې کیږي شتون لري، دغه غدې انزایمونه او دمعدې تېزاب،هایډرو کلریک اسید دترشح کوي چي ټول خواړه حتا کلکي غوښې لا هم تجزیه کوي.**

**٥٤٧پوښتنه: د ویټامین بي۱۲ جذب په کلمو کي درکومه صورت نه نیسې؟ځواب: حیرانوونکي خبره خوداده چي یاد ویټامین بیله د یؤه ملګري دمرستې او ملتیا په یؤازي ځان نه سي کولی په کلمو کي جذب او اینه کي ذخیره سي، دیاد ویټامین دغه ګران ملګری ګلیکو پروټین دی چي خورا کوچنی دئ او اټومي وزن لري؟**

**٥٤٨پوښتنه: په اینه کي دبي۱۲ویټامن ذخیرڅومره ده؟**

**ځواب: پنځه ملي ګرامه ده چي دانسان لپاره پنځه کاله بسنه کوي، ځکه یؤ انسان په کال کي یؤازي یؤ ملي ګرام یاد ویټامین کاروي.**

**٥٤٩پوښتنه:موږ هره ورځ څومره دبي۱۲ویټامن ته اړتیا لرو؟**

**ځواب: موږ هرورځ د درو څخه در پنځو مایکروګرامه پوري یاد ویټامین ته اړتیالرو، یؤ مایکرګرام دمیلي ګرام یؤمیلیونم برخه کیږي.**

**٥٥٠پوښتنه: دویټامین بي دولس کمښت دکومو نارغیواوستونزو لامل کیږي؟ ځواب: د انیمیا،دویني لږیدا،دژبې دالتهاب،دخوړو په تیرولو کي ستونزې، دفعالیت لږیدل،دبدن دکهالی>**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسوستی،ډنګریدو،ژورخفګان،دپښو مړاوي کیدل،دبدن لړزیدلو، سردردۍ، فشارټیټیدلو،نفس تنګی اونورو ناروغیو اوسټونزو لامل کیږي.

۵۵۱پوښتنه: د ګوناډوتروپین هورمون دندڅشي ده؟

ځواب:ملیکه غده ګوناډوتروپین آل ایچ او ایف ایس ایچ هورمونونه

دهیپوتلاموس څخه جي اي آر ایچ هورمون په مرسته افرازوي،چي دنارینه اوښځینه پر جنسي هورمونونو باندي اغیزه لري،یاني محرک يې دي> ۵۵۲پوښتنه انتي ډیورتیک هورمون دنده څشي ده؟

ځواب:ملیکه غده یؤبل هورمونه چي انتي ډیورتیک ای ډي ایچ یا دبدن څخه دمایعاتو دضایع مخه نیوونکی دۍ،یانې یاد هورمون په بدن کي د اوبو توازن ساتي اونه پریږدي چي دبدن څخه زیاتې اوبه ضایع سي، یاد هورمون دپښتورګو پر راټولونکو پیپونو اغېزه کوي او په بدن کي داوبو دزیاتوالي لامل کیږي؛که یاد هورمون ترشح نه سي یا کم سي دانسان ژوند به په دوږخ بدل سي؛داسي چي د اوبو دچیني خواکي به ناست وي اوپه اوبو به نه اوبیږي،څښل او بولي کول به يې ورځنی کار سي دیاد هورمون کمښت ته بې مزي شکره وایي چي لویه نښه يې ډېرې بولې کول دي.

۵۵۳پوښتنه:thymusتایموس

یا یؤحربي پوهنتون څنګه غده ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: تايموس حربي پوهنتون،

تيموس هغه غده ده چې دپيدايښت دپيل څخه وده کوي، ورسته در دوو کالو نرئ کيږي.

٥٥٤ پوښتنه: دانسان دبدن دساتونکي يادفاعي پوځ شمېرڅومره دئ؟

ځواب: يؤټريليون او٢٥زرو ميليونو ته رسيږي لري.

٥٥٥ پوښتنه: ماشومان په لومړيو کلونو کي په فطرتي ډول ډېره هڅه کوي ترڅو هرشی چي لاس ته ورځي خولې ته يې واچوې،وي خورې دې کار کي حکمت او راز څشي دئ ؟

ځواب:ماشوم چي دهيڅ کومې ناروغۍ سره مخ سوی نه دئ د ډېرو ناروغيو د رامنځته کوونکو سره مخ سي او دماشوم دفاعي ځواک سپين کرويات او پلاټيليټونه دبدن دښمن عنصرونه وپيژني او دهغوئ په اړه ډېر مالومات لاسته راوړي، اوپه راتلونکي وخت کي دهغوئ داحتمالي حملې کولو لپاره ځانونه تياره وي،تيارکړې.

٥٥٦ پوښتنه: دتايموس غده د بريښنايي مايکروسکوپ لاندي څنګه مالوميږي؟

ځواب:دتايموس غده د بريښنايي مايکروسکوپ لاندي دانار د دانو دپوړونو په شان مالوميږي چي سپين کرويات،تې سيل ورباندي قطار وي ترڅو ياد اړين درسونه ياد کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۵۷پوښتنه دتایموس په حربي پوهنځی کي دپوځیانو تې سیل روزنه دکوچني څومره وخت دوام کوي؟**

**ځواب:دپیدایښت څخه پیل او در درو کالو پوري دوام کوي ورسته درهغه هغه زیرک زده کړیالان چي دیاد پوهنځی څخه په ښونمرو فارغه سوي د استادۍ دنده ورته سپارل کیږي ترڅو هغوئ راتلونکو نسلونو ته هم دا پوهه ورسوي او نورسپین ذرات دبدن دفاعي پوځیان وروزي.**

**۵۵۸پوښتنه: صنوبري غده څنګه هورمون ترشح کوي؟**

**ځواب:یاده غده داسي هورمون ترشح کوي چي په ټولو ژوندیو موجوداتو کي شتون لري، نباتات،حیوانات،حشرات او حتا یؤ حجروي موجودات کي هم یاد هورمون شتون لري، ډېره جالبه داده چي دا هورمون په ټولو ژوندیو موجوداتو کي یؤ رکم دئ،دبیلګې په ډول یؤازي په شپه کي ترشح کیږي.**

**۵۵۹پوښتنه: پوهانو دیاد هورمون د دندو په اړه څه ویلي دي؟**

**ځواب: دغه هورمون دانسان دبدن یؤ دډېرو فعالو عناصرو څخه دئ، دبدن سره د ویروسونو او میکروبون پر وړاندي په مبارزه کي مرسته کوي،همدا ډول دانسان سره مرسته کوي چي رحته بیده سي او ښه خوبونه ووینې، دزړه اورګونو دناروغیو دکمښت لپاره بدن پیاوړی کوي، داوږدو سفرونو دستړیا په لږولو کي مرسته کوي، دعضلاتو پیاوړتیا ډېره وي، حتا در دې اندازې پوري چي کولی سو دا هورمون دانسان دسلامتۍ او دبدن د غړو د دندو دسمون کوونکی په توګه وپېژنو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵٦٠پوښتنه: پانقرس،لوازالمعده کومې دندې سرته رسوي؟**

**ځواب:دپانقراس لومړۍ دنده دچيکيدې ته ورته موادو ترشح ده ترڅو دخوړو تېزابي، اسيدې ځانګړنه په القلي بدله کړي.**

**دپانقراس دويمه دنده داده چي په اينه او عضلاتو کي ذخيره سوي قندونه،خوږې،ګلاى کوجن،يا ځيني وخت شحمونه،غوړي چي دګټې وړ نه وي د ذخيره وي حالت څخه را وباسي او دګټې اخيستې لپاره يې په قند؛خوږې بدل کړي.**

**دپانقراس دغدې دريمه او ترټولو اړينه دنده داده چي پانقراس دبدن دخوږې،شکري دمصرف،کارونې،کنټرول او سوځيدنې لپاره دانسولين،اوګلوکاګون په نامه هورمونونه ترشح کوي، کله چي هم ياده غده دانسولينو په ترشح کي سوستي وکړي قند،خوږه،شکره په بولو کي ښکاره کيږي چي ياد حالت د دويم ټايپ ډيابيټ؛يا شکري ناروغۍ په نامه ياديږي او که بيا چيري پانقراس غده هيڅ هورمون توليد او ترشح نه کړي دانسان په بدن کي دلومړي ټايپ ډيابيټ يا شکري ناروغۍ لامل کيږي.**

**۵٦۱پوښتنه: دتوري،طحال په اړه راته ووايه؟**

**ځواب: دتوري پنډوالی يؤانچ،بر يې دري انچه، اوږدوالی يې پنځه انچه او وزن يې دشلو ګرامو څخه ډېر نه دئ، ياد غړی په سور رنګ سره رنګول سوی دئ، د ډيرو ډېر کوچنيو رګونو په واسطه چي ديؤه شريان او وريد سره په اړيکه کي دي دوينې دبهيدونکي سيستم سره مښلول سوی دئ، دتوري په دننه کي دکور په شکل پردې شتون لري چي عضلي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په برکي نيولي دي، يادې عضلې په مالوم وخت کي راغونجيږي او توري دذخيره سوي،خوندي سوي وينې څخه خالي کوي.

۵٦۲پوښتنه: توری د داينې سره يوځای د جنيني ژوند په دوران کي څشي جوړوي؟

ځواب:ساتونکي پوځيان يا سپين کرويات جوړوي.

۵٦۳پوښتنه: دسروکروياتوهديره کوم غړي ته وايي؟

ځواب: توري،طحال ته وايي.

۵٦٤پوښتنه: آيا توري ته يوه هديره ووايوکه تجزيه کوونکي فابريکه؟

ځواب: دا هديره يوه هديره نه ده بلکي يو پيچلي کار خانه ده چي دسروکروياتو دمړو څخه د سروکرويات بياجوړونکي اومه مواد جوړوي او د هډوکو مغز ته يې استوي ترڅو نوي سره کرويات تري جوړ کړي، دهمدي مړو حجرات څخه هيمو ګلوبين جلا کوي اينې ته يې استوي ترڅو په اينه کي تري صفرا،زرغوني اوبه جوړي سي او دکوچنيو کلمو جيجنيوم برخې ته توی سي او دغوړو خوړو په هضم کي مرسته وکړي.

۵٦۵پوښتنه آيا توري سره کرويات جوړوي؟

ځواب:هو توری يوزي هغه وخت دوينې سره کرويات جوړوي کله چي دهډکو په مغز کي دسرو کروياتو دجوړيدا چار ودريږي يا وځنډيږي.

پوښته دشيدو لارې کهکشان تيزوالی په ساعت کي څوکيلومتره دئ؟

ځواب ۹۵۰۰۰زره کيلومتره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٥٦٦پوښتنه: په هر ملي ليټر يا سي سی کي څومره سپين کرويات شتون لري؟**

**ځواب: په هر ملي ليټر يا سي سی کي در نهو زرو پوري سپين کرويات شتون لري.**

**٥٦٧پوښتنه: سپين کرويات دڅو ډلګيوڅخه جوړ دي؟**

**ځواب: ياد پوځ د درو ډلو څخه جوړ دئ دمالوماتو،خبرنو راټولونکي،وسله جوړونکي او د دوښمن سره مخامخ جګړه کوونکي ډلګی.**

**٥٦٨پوښتنه: زمود بدن څخه څومره شمېر پوځيان ساتنه کوي؟**

**ځواب: دبدن دفاعي سيسټم پنځويشت زره ميليونه دسپينو ذراتو او د ديؤ ټريليو پلاټيليټ پوځيانو لرونکی دئ.**

**٥٦٩پوښتنه:پلاټيليټونه، دموي صفيحات څه شي دي؟**

**ځواب: پلاټيليټون، ډيسک ته ورته، غيرمنظم او بيضوي شکله جوړښتونه دي چي قطريې د ٣يا٤مايکرو متروته رسيږي، دنارملې اندازې څخه ډېرښت او کمښت يې دواړه دناروغی لامل کيږي.**

**٥٧٠پوښتنه: چيري ياد لامبو وهونکي ذرات پلاټليټ نه وي څه به وسي؟**

**ځواب: دانسان ټوله وينه به ديؤه کوچني ټپ څخه توی سي، هرکله چي دانسان په بدن کي زخم جوړ سي ياد ذرات يې خوا ته ورځي پرهغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړيږي او دتېپ مخ پوښوي؛ په همدې ډول دوينې ختڼه کيدل منځته راځي.

۵۷۱پوښتنه: دوينې دختڼه کيدو چاره دوينې دکومې مادې مسؤليت دئ؟

ځواب: دپلازما ديؤه پروټين فيبرينوژين مسؤليت دئ.

۵۷۲پوښتنه: دوينې پلازما څشي ده؟

ځواب: دوينې پلازما دوينې دمايع برخې څخه عبارت ده چي دوينې۹۲ سلنه حجم جوړوي، دپلازما سلنه ۵۵اوبه جوړوي اوپاته برخه يې جامد مواد دي چي؛ پرتينونه،مالګې او عضوي مرکبات پکښې شامل دي،

دپلازما البومين پروټين دوينې ازموتيک فشار ساتي،ګلوبولين يې دهورمونو دليږد دنده لري او فيبرينوژين دوينې دختڼه کيدو مسؤله دئ.

۵۷۳پوښتنه: په ناړو کي کوم معدني موادشتون لري؟

ځواب: سوډيم، پوتاشم،کلسيم،مګنيزيم،فسفات،بيکاربنات، پروټين، بورې او همدارنګه د زهرو ضد ماده او انزايمونو دناړو جوړونکي مادې دي

۵۷٤پوښتنه: ناړودندې تشريح کړئ؟

ځواب:دخولې مرطوب،لنده ساتل، دهضم په عمليه کي مرسته کول،انسان ته دخبرو کولو دوړتيا ورکول، دخوړو څخه دخولې پاکوالی، دسختو موادو نرم کول، خوړو ته مناسب اندازه تودوخه ورکول،ليزوزيم او لاکتومزين شتون چي دميکروبو او زهر ضد مادې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۷۵پوښتنه: زامه دڅو عضلوپه مرسته حرکت اوخوځښت کوي؟**

**ځواب: شپږ عضلي لاندي خواته په خوځښت راوستلو،شپږ عضلې يې لوړ لورته په حرکت راوستلو، دوې عضلې يې چپه او راسته اړخه ته په خوځښت ورکولو او څلور عضلې يې ومخ او شاته په خوځښت راوستلو کي داخلي دي، مرسته کوي.**

**۵۷۶پوښتنه: انسان تخمين هرورځ څوځله غذا ژويي؟**

**ځواب:انسان هرورځ ۲۴۰۰ځله غذا ژويي او تيروي يې، همدارنګه د خوړو دتيرولو سيستم،ګډکارى هم ډېر دقيق دئ.**

**۵۷۷پوښتنه: دخوړو دتيرولو چاردڅشي په مرسته سرته رسيږي؟**

**ځواب: هرورځ د اوبو او خوړو دتيرولو چار دجمجمې اوم،نهم،يولسم او دولسم عصبو په مرسته چي ټول دمغز دريښې څخه تيريږي په پوره دقت او ښه ډول سرته رسيږي.**

**۵۷۸پوښتنه: مرىَ څومره اوږده ده؟**

**.ځواب: مرىَ چي د۲۵څخه در ۳۰سانتي متره اوږده ده.**

**۵۷۹پوښتنه: آيا کلمې درد حس کولى سي؟**

**ځواب:نه کلمي درد نه حس کوي بلکي دهغوئ په پوښ زرينه غشاء کي د درد حسي عصب شتون لري ۵۸۰**

**پوښتنه که سپوږمئ دمځکي څخه يؤڅه ډېره ليري سي څه به پيښ سي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**ځواب نوري سيارې به يې خپل ځانته را وکاږي، دمځکي وضعي حرکت،پر ځان راڅرخيدنه به تيزه سي ورځ او شپه به د۲۴ساعته پرځای ۴ساعته ته را لنډه سي.**

**۵۸۱پوښتنه آيا داسي کبان شتون لري چي دژوند دېره برخه يې په محاجرت کي تيرېږي؟**

**ځواب: هو دسالمن په نامه کبان شتون لري چي دامريکا دسيندونو په سرچينو کي زيږي داطلس سمندر پای ته رسيږي دفرانسي سواحلوته ځي او ورسته بيرته خپل دپيدايښت ځای ته راستنيږي.**

**۵۸۲پوښتنه: که دسږو هوايې کڅوړي وغوړو څومره ځای نيسي؟**

**ځواب: ۲۰۰مټره مکعبه متره ځای به ونيسي.**

**۵۸۳پوښتنه د کلمو دزريني غشأ دنده څشي ده؟**

**ځواب: دکلمو نرموالی،پستوالی ،اراموالی، دميکروبونو په وخت کي دميکروب ضد مايع جوړول،ددفاعي سيستم دمرکزونوشتون د درد حس کول.**

**پوښتنه: موږ خپل پر بدن څومره دهوا فشار،اتموسفير ليږدوو؟**

**ځواب: موږ دخپل ځان سره دلسو څخه درشلو ټنو پوري دهوا فشار ليږدوو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



*******************************************

۵۸٤پوښتنه: په قرآن کریم کي هغه کوم شئ دئ چي هم درواغو، هم د ثبوت او هم د علاج، لپاره ذکر سوئ دئ؟

ځواب:د یوسف علیه السلام کمیس.

۵۸۵پوښتنه:هغه کوم صحابي وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د مکې د فتحې پر مهال د کعبې کیلې ورکړې وه؟

ځواب:عثمان بن طلحه رضي الله عنه .

۵۸٦پوښتنه د هغه صحابۆ نومونه څه وه چي پرښتو به یې د سورت البقرې تلاوت اورېدئ؟

ځواب: اسید بن حضیر رضي الله عنه او ثابت بن قیس.

۵۸۷پوښتنه: هغه پنځه څوک دي چي پر مځکه یې ژوند کړئ خو د مور له رحم څخه نه دي پیدا سوي؟

ځواب: ادم علیه السلام او بي بي حوا د ابراهیم علیه السلام پسه د موسی علیه السلام امساء،لکړه د صالح علیه السلام اوښه.

۵۸۸پوښتنه: هغه کوم شخص وو چې د نړی شپږمه برخه نفوس یې وژلی وو؟

ځواب:قابل د ادم علیه السلام زوئ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۸۹پوښتنه: هغه کوم غیر اسلامې قانون دئ چې په اسلامې او غیر اسلامې هیوادو کې پلی کیږي؟

ځواب:هغه ترافیکې قوانین دي.

۵۹۰پوښتنه:دا څوک دي چې پلرونه یې سته خو مړه کیږي او چې پلار یې نسته ژوندی دئ؟

ځواب: عیسی علیه السلام.

۵۹۱پوښتنه: په نړۍ کې د کوم دکار دعوت کولو ته خلګ زیات رابلل کیږي؟

ځواب: لمونځ.

۵۹۲پوښتنه: د اونۍ دهغو پنځو ورځونومونه واخلئ چې پرته له دې چې په شنبه، یکشنبه، دوشنبه، سه شنبه، چهارشنبه، پنجشنبه او جمعه ذکر کړئ؟ یا اول دویم دریم څلورم پنځم شپږم.

نوټ او په پښتنو کې په روز مره ډول یادیږي هم.

ځواب :نن ورځ سبا ورځ بل سبا ورځ پرون ورځ ابل پرون یاوړمه ورځ.

۵۹۳پوښتنه: باچا ته درې کسان راغلل یو ورته وویل چې لور دې غواړم بل ورته وویل چې ږیره دې کمومه بل ورته وویل چې دباغ ونې دې وهم باچا دریو واړو ته داسې کوم یو ځواب ورکړ چې د دریو واړو پوښتنې پرې ځواب سوې؟ ځواب:وړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٥٩٤پوښتنه: هغه کوم شئ دئ چي د استعمال په وخت ايسته،ليري غورځول کيږي؟

ځواب: د ماهيانو جال.

٥٩٥پوښتنه: پښې يې پرځمکه دې او سر يې د ستورو له پاسه دئ دابه څشي وي؟

ځواب: د لوا قومندان.

٥٩٦پوښتنه: هغه څشی دئ چي غاړه لري سر نه لرې جسم لري پښې نلري؟

.ځواب: کميس دئ.

٥٩٧پوښتنه: هغه کوم شئ دئ چي کله مات سې قيمت يې لوړيږي؟

ځواب: هګۍ ده.

٥٩٨پوښتنه: کومې پوښتنې ته په هو ځواب نه سئ ورکولای؟

ځواب:تر اوسه بيده يې.

٥٩٩پوښتنه:هغه څه شئ دئ چې دوه سکه ورونه يې له سفر راسي پنځه سکه خويندي يې سترې مسي ته ورځي؟

ځواب: پوزه اولاسونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ننګونکي پوښتنې | او ځوابونه |
|---|---|

**۶۰۰پوښتنه:هغه ښځه ده چې په خپله زياتېږي او کمېږي؟**

**ځواب: مياشت.**

**۶۰۱پوښتنه: هغه کوم شی دئ د لمس کولو پر وخت چيغې وهي؟**

**ځواب: د دروازې ارنګ،زنګ.**

**۶۰۲پوښتنه: هغه کومه ودانۍ ده چې زياتي کيسې لري؟**

**ځواب:کتابتون،کتابخانه.**

**۶۰۳پوښتنه: هغه کومه ښځه ده چې هر وخت د خپل خاوند په ځای باندې پوهيږي چې چيري دئ؟**

**ځواب: کونډه**

**۶۰۴پوښتنه: هغه کوم شی دئ چې د ننه وريښتان او بهر غوښنه لري؟**

**ځواب: پره.**

**۶۰۵پوښتنه:هغه څه شي دئ چې پيل او پای نلري؟**

**ځواب:حلقة،ارغړئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۰۶پوښتنه: هغه څشی دئ چي ځي او بیرته نه راځي؟

ځواب: لوګی،دود.

۶۰۷پوښتنه: په لغاتونو کي کوم کلیمه تل غلطه لیکل کیږي؟

ځواب: په غلطه توګه.

۶۰۸پوښتنه: هغه کومه پوښتنه ده چي ځواب یې هر وخت توپیر لري؟

ځواب: څو بجې دي.

۶۰۹پوښتنه: هغه څشی دئ چي غریب یې لري او شتمن ورته اړتیا لري خو که یې وخوري مړ به سي؟

ځواب: لوږه .



(c) ketabton.com: The Digital Library

## هغه سرچينې چي په دې كتاب كي ؛ته ورڅخه اخيستل ىوي ده!

۱(په كايناتو كي دقرآن كريم علمي معجزې) كتاب

۲(دانسان په بدن كي دقرآن كريم علمى معجزې) كتاب.ديادولو وړده چي ياددوه كتابونه ډاكټرمحمدراتب نابلسي صاحب ليكلى اومامحمودحميدزي دزياتونو سره ژباړلې اوخپاره كړي دى.

ديادو كتابونو ما خذونه د ۵۰۰ څخه ډيردي.

۳بيلابيلې انټرنيټي سرچيني چي يادونه يې اړينه نه بولم.

۴دكتاب دپاى ۲۶ پوښتنې داغلې كوچۍ ملغلرې(نسيمه سحر) فيسبوك پاڼې څخه را اخيستل سوي دي.

۵ او دكتاب د طبي برخې په پوښتنو كي ۱۱پوښتنې د ډاكټرمحمد دفيسبوك پاڼې څخه را اخيستل سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ننګونکي پوښتنې او ځوابونه

## طبي ، ساينسي ، جغرافيايي ، ټولنيز او ذهني



ژباړه او راټولونه: محمود حميدزی

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library